بسم الله الرحمن الرحیم

# د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه

# (7)

ډاکټر کفايت الله وردګ

# د کتاب په اړه

●●●●●●●●●●●


د کتاب نوم : د اسلامي تاریخ له پانو څخه (۷)

لیکوال : ډاکتر کفایت الله وردګ

د کمپیوټر چارې : محمد نذیر (ذبیح)

د چاپ وار : لمړی

د چاپ شمېره : ۲۰۰۰ ټوکه






Zamzam_publication@yahoo.com
00923009808094
00923009101098
Unit R 7 Alwajid Plaza, Faisalcolony Chawk, Dalazak road
Peshawar, KPK, Pakistan






# د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه

په زړونو کې د اسلامي جذبې لرونکو ځو ورونو زمونږ ددې لپاره ملا تړلې ده چې تر پورتني نوم لاندې د کتابونو يوه سلسله روانه وساتو پدې هلو ځلو کې زمونږ هېڅ مالي او دنيوي فايده نشته زمونږ غرض صرف د الله تعالی رضا ده او پدې سلسله کې مونږ ځو نکتې تر نظر لاندې لرو چې مونږ دې ټولو هلو ځلو ته هڅوي .

١. پښتنو ورونو ته ددوی په خپله خوږه ژبه کې ديني معلومات ورکول.

٢. د اسلامي تاريخ د مهمو واقعو ياد را تازه کول .

٣. مسلمانو ورونو ته د دوی د مقدس دين په اړه د مطالعې ضمينه مساعدول.

٤. په تېر تاريخ کې د قربانيو مثالونه د نن زمانې ويده مسلمان امت ته ور په زړه کول .

٥. د اسلام په تاريخ کې د تېرو مسلمانانو د صبر واقعې هغه خلکو ته ور په يادول چې اوس هم په کومه نه کومه وجه د کفر له لوري نه ځوريږي .

٧. موجوده مسلماني جامعې ته موقع ورکول چې د خپلو تېرو مسلمانانو د ژوند، مېړانې، ځوانمردۍ، قربانۍ ... نه عبرت واخلي .

او بالآخره نوي ځوان تنکي نسل ته د اسلامي تاريخ د لويو کتابونو څخه لويې خبرې د وړو رسالو او کتابونو په شکل کې ددوی د استانتيا لپاره وړاندې کول .

دا پورتنۍ او څه نوري داسې نکتې دي چې مونږ ددې سلسلې رواني ساتلو ته هڅوي او ان شاء الله ترڅو مو چې وس وي دا لړۍ به مونږ همداسې روانه ساتو لله الحمد داده ستاسې تر لاسونو پورې ددې مبارکې لړۍ اومه کړۍ هم در ورسېده او پدې کړۍ کې هم مونږ د اسلامي تاريخ نه مختلفې واقعې را ټولې کړې دي اميد دی چې ستاسې د خوښې وړ به و ګرځي او که کوم ملګري دې لړۍ ته د لا زياتو ښه کولو لپاره په ذهن کې مشورې لري او يا خدمت کول غواړي زمونږ غېږه ورته خلاصه ده او که ددې کتاب او يا دې لړۍ په اړه ستاسې څه ډول اعتراض، سوال، نيوکه، نکته، نظريه او يا مشوره وي نو ددې سلسلې چلونکي به يې لتاسې نه د کور وداني په ويلو سره په ورين تندي واوري او په راتلونکو کتابونو کې به يې په ياد لري . مننه

د زمزم خپرندويه ټولنې اداره

E-mail: zamzam_publication@yahoo.com

## د يوه څادر په بدل کې جنت

د رسول الله ☸ په خدمت مبارک کې څه کسان حاضر شول چې د جامو سوال يې کولو او جامې يې زړې وې رسول الله ☸ د دوی د حاجت د پوره کولو لپاره کور ته لاړو هلته يې هم څه پيدا نه کړل چې دوی ته يې ورکړي رسول الله ☸ وليدل چې حضرت فاطمې رضی الله تعالی عنها يو لوی څادر پر ځان را تاو کړی دی هغې مبارکې ته يې وويل : ای لورې! ته غواړې چې ددې څادر په واسطه الله ① لتا څخه د جهنم د اور مخه ونيسي؟ هغې رضی الله تعالی عنها ورته سم د لاسه وويل هو! غواړم يې بيا يې هغه څادر له هغې مبارکې رضی الله تعالی عنها څخه واخيست هغه ډېر لوی څادر وو را يې وړو هغه کسانو ته يې ورکړو چې هغوی خپل کار ورباندې وکوي .

## د حضرت عمر ❽ جلال

يوه ورځ د قريشو څو مسلماني ښځې د رسول الله ☸ مجلس ته راغلې وې د خپلو خاوندانو څخه يې د خپلو حقونو په اړه رسول الله ☸ ته شکايت کولو په خبرو کې د ځينو اوازونه ډېر پورته کېدل لکن رسول الله ☸ د خپل حلم او عاجزي له مخې

دهغوی اوازونه آورېدل او برداشت کول یې پدې وخت کې د حضرت عمر ❽ د راتلو اواز شو پدې وخت کې ټولې ښځې پاځېدلې او په پرده کې شوې ځانونه یې پټ کړل حضرت عمر ❽ د ننوتلو اجازه وغوښته رسول الله ☸ هغه ❽ ته اجازه ورکړه .

حضرت عمر ❽ چې کله را ننوتلو نو ویې لیدل رسول الله ☸ خندل پوښتنه یې تري وکوله : الله مو همېشه خوشحال ساته په څه شي خاندئ یا رسول الله ☸؟

رسول الله ☸ ورته و فرمایل : ددې ښځو په حال باندې خندا راغله دوی د خپلو حقونو په اړه د خپلو خاوندانو شکایت کولو چې کله تاسې راغلئ نو هغوی ټولې پاځېدلې او ځان یې په پرده کې کړو .

حضرت عمر ❽ هغه ښځو ته ویل : ای ظالمانو دا تاسې څه کوئ؟ لما څخه ډارېږئ په کار ده چې تاسې د رسول الله ☸ څخه وډارې شئ .

قریشو ښځو ورته وویل : هو لکن رسول الله ☸ ستاسې په څېر نه دی ستا خو صرف اعتراض کول زده دي زمونږ خبره ستا سره نه ده .

رسول الله ☸ حضرت عمر ❽ ته وویل : ته چپ شه زما د په الله قسم وي چې ته په کومه لاره ځې شیطان له هغې لارې څخه لرې کېږي او په بله لاره ځي (شیطان ستا له مخې نه لاره چپوي)


## د رسول الله ☸ سخاوت

یو وخت د رسول الله ☸ په خدمت کې نوي زره (۹۰۰۰) درهم وړاندې شول رسول الله ☸ ددې په ځای چې هغه ذخیره کړي تقسیم کول یې شروع کړل سوالگر به راتلل او رسول الله ☸ ته به یې سوال کولو او رسول الله ☸ به ورکول تردې چې هغه نوي زره درهم ختم شول د ختېمدو څخه وروسته یو کس راغلو سوال یې وکولو رسول الله ☸ ورته وویل اوس خو هغه درهم ختم شول خو څه ته زما په نوم له چا څخه د قرض څه شی واخله چې کله له کومې خوا نه مال راغلو ستا قرض به زه خلاص کړم حضرت عمر ❽ د مجلس شریک وو عرض یې وکولو :

یا رسول الله ☸ کوم شی چې د انسان په وس کې نه وي هغه خو کول ضروري نه دي .

رسول الله ﷺ څه ونه ويل لکن د حضرت عمر ❽ خبره يې خوښه نه شوه په مجلس کې يو انصاري ناست وو هغه وويل :

يا رسول الله ﷺ ته مصرف کوه الله ① به کله هم تا د مال د کمښت په غم کې نه آخته کوي رسول الله ﷺ چې دا خبره واورېده خوشحال شو په مسکا کې يې وويل ماته داسې امر شوی دی (صحيح ا لترمذي)



# ددې امت امين

حضرت عمر ❽ د خپل خلافت په دوره کې حضرت ابو عبيدة بن الجراح په دمشق باندې والي مقرر کړی و څه وخت وروسته حضرت عمر ❽ دده ساحې ته په دوره ور روان شو حضرت ابو عبيدة ابن الجراح ❽ د امير المومنين ❽ استقبال ته له ابادۍ څخه بهر راوتلی وو او هلته يې ورته هرکلی ووېل او امير المومنين ❽ يې له ځان سره روان کړو او ښار ته ننوتلو .

حضرت امير المومنين ❽ ورته ووېل : اول به مونږ ستا کور ته ځو بيا به نور ځايونه ګورو .

حضرت ابو عبيدة ❽ ورته ووېل : جناب زما کور ډېر ساده دی هلته دومره څه نشته چې زه ورباندې ستاسې استقبال وکوم .

لکن بيا هم حضرت عمر ❽ ټينګار کولو چې نه اول به ستاسې کور ته ځو بالآخره حضرت ابو عبيد ة بن الجراح مجبور شو او امير المومنين ❽ يې له ځان سره کور ته روان کړو کله چې حضرت عمر ❽ د حضرت ابو عبيدة بن الجراح ❽ کور ته ور ننوت هلته يې ولېدل چې يو پوزکی وو، يوه بدنۍ (لوټه) وه، او يو د اوبو د

ساتلو لوښى وو نور په كور كې هېڅ هم نه ښكاره كېدل د حضرت عمر 8 له سترګو اوښكې راغلې او ويې فرمايل : دنيا د حضرت ابو عبيدة 8 نه بغير مونږ ټول بدل كړو بيا يې وفرمايل : ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې ويل يې : ددې امت امين حضرت ابو عبيدة بن الجراح دى اى ابو عبيدة تا د امانت حق اداء كړو .

## د رسول الله ﷺ عاجزي

حضرت انس 8 فرمايي يو ځل د رسول الله ﷺ په وړاندې يو كس په داسې حالت كې حاضر شو چې د رسول الله ﷺ تر رعب لاندې راغلى وو او هغه چې خبرې كولې هغه رېږدېدو رسول الله ﷺ ورته وويل لما څخه ولې ډارېږې زه خو څه بادشاه نه يم د قريشو د يوې ښځې زوى يم چې وچه غوښه به يې خوړله راشه په ښكاره او زړورتيا سره ووايه څه ته دې ضرورت دى .

# په مَړه ګېډه خوراک

حضرت ابو جحيفه ❽ فرمايي :

يوه ورځ مې په مړه ګېډه داسي ډوډی وخوړه چې زما خوښه وه او غوړه وه راغلم د رسول الله ☸ سره نېږدې کېناستم ماته بيا بيا ارګمي راتلل او غرکېدم رسول الله ☸ دوه دری ځله راته صبر وکولو بيا يې راته وويل :

ابو جحيفه په خپلو غرکېدلو سره مونږ ته ضرر مه راکوه په ياد ساته په دنيا کې چې څوک په مړه ګېډه ډوډی خوري هغه به په آخرت کې تر هرچا نه زيات وږی وي .

ددېنه وروسته به ابو جحيفه ❽ تول عمر په نيمه ګېډه خوراک کولو او که به يې د سهار ډوډی وخوړه نو بيګا به يې بيا نه خوړه او که به يې بيګاه وخوړه نو سهار به يې بيا نه خوړه .

په صحيح الترغيب و الترهيب کتاب کې د ابو جحيفه ❽ خپل قول نقل شوی دی چې هغه فرمايي بيا تر ديرشو کلونو پورې ما په ډکه ګېډه ډوډی ونه خوړه .

## صدقه بې حسابه کول

حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمايي : يو وخت زمونږ په کور کې ډوډۍ وه سوالګر اواز وکولو ډوډۍ يې غوښته زمونږ په کور کې خادمه ورغله ډوډۍ يې راواخيستله ماته يې ښکاره کړه چې زه ورته د ورکولو اجازه وکوم ماهغه ډوډۍ کتله او توتې مې يې حسابولې رسول الله ﷺ اواز وکولو عائشې ! ډوډۍ په حساب مه ورکوه بې حسابه يې ورکړه چې الله ① هم تاته بې حسابه ثواب درکړي .



# صبر د غم په اول وخت کې غوره دی

یوځل رسول الله ﷺ یوه ښځه ولیده چې قبر ته ناسته وه ژړل یې رسول الله ﷺ ورغلو ورته ویل یې خورې پاڅېږه په ژړا څه نه کیږي صبر وکوه هغې په داسې حال کې چې رسول الله ﷺ یې نه پېژندلو په سخته لهجه کې ورته وویل :

څه ... تاته څه معلومه ده چې په ما څومره غم دی .

رسول الله ﷺ تري راغلو او هېڅ یې هم ورته ونه ویل .

له بله پلوه نورو ښځو دې ښځې ته وویل : کوره ښه کار د ونه کولو رسول الله ﷺ ته دې په سخته لهجه کې خبرې وکولې هغه ښځه په منډه منډه راغله د رسول الله ﷺ په مجلس کې حاضره شوه ورته یې عذر ویل چې ما ته و نه پېژندلې ....

رسول الله ﷺ ورته وویل صبر هغه غوره دی چې عین د مصیبت په وخت کې وکول شي .

## مېلمه پالنه

د حضرت ابي رافع ❽ نه روايت دی : يوه ورځ د رسول الله ☸ کور ته مېلمه راغلو ماته يې وويل : ورشه فلاني يهودي ته ووايه چې مونږ ته لږ اوړه په قرض راکړي اوس مو مېلمه دی چې پيسي پيدا شي وربه يې کړو .

زه يهودي ته ورغلم هغه راته وويل زه قرض نه ورکوم .

ما چې رسول الله ☸ ته وويل هغه قرض نه راکوي رسول الله ☸ وويل زه په زمکه او اسمانونو کې امين يم که يې قرض راکړی وای بېرته به مې ورکړی وو ځه ورشه زما زغره ورووړه په ګانه کې يې ورته کېږده اوړه تري راوړه چې مېلمه دی .

## د حضرت صهيب ❽ مېلمستيا

حضرت صهيب ❽ فرمايي : ما رسول الله ☸ ته په کمه اندازه باندې څه خوراک تيار کړو بيا ورغلم چې رسول الله ☸ ورته را وغواړم کله چې د رسول الله ☸ په مجلس کې حاضر شوم ومې کتل چې هلته نور خلک دي له رسول الله ☸ سره ناست دي

زما په کور کې خوراک دومره وو چې صرف د رسول الله ☸ بس کېدو ما هغه ☸ ته اشاره وکوله چې لما سره زما کور ته لاړ شي هغه ☸ په اشاره کې ماته وویل : دا خلک هم؟ ما ورته په اشاره کې وویل : نه یا رسول الله ☸ (ځکه په کور کې خوراک دومره وو چې صرف د رسو ل الله ☸ بس کېدو) رسول الله ☸ بل لوري ته وکتل او د خلکو سره یې خبرې کولې زه په خپل ځای ولاړ وم چې رسول الله ☸ بیا ماته وکتل ما ورته بیا هماغه ډول اشاره وکوله او رسول الله ☸ بیا راڅخه په اشاره کې وپوښتل چې دا نور خلک هم؟ ما ورته وویل نه یا رسول الله ☸ کله چې دریم ځل هم همداسې اشارې تکرار شوې نو په دریم ځل کله چې رسول الله ☸ راته اشاره وکوله چې دا نور خلک هم ؟ ما ورته وویل هو یا رسول الله ☸ حضرت صهیب رومي ❽ فرمايي ما چې کوم شی تیار کړي وو هغه ډېر لږ وو اوس د رسول الله ☸ سره په مجلس کې ناست کسان ټول را روان شول خوراک مو د رسول الله ☸ په وړاندې کېښودو ټولو مېلمنو تري خوراک وکولو او رسول الله ☸ هم تري وکولو هغه لږ خوراک د ټولو کسانو لپاره بس شو او ترینه پاتې هم شو .

# د قرض خلاصول

حضرت جابر بن عبد الله انصاري ❽ فرمايي : په مدينه منوره کې يو يهودي اوسېدو ما به له هغه څخه تول کال قرض کولو او کله به چې خورما (کجورې) پخې شوې نو د هغه قرض به مې ورکولو بل کال د خورما حاصل ښه نه وو نو ما د يهودي قرض اداء نشواى کړلى صبر يې راته وکولو بل کال چې راغلو نو هم د خورما حاصل ښه نه ښکاره کېدو هغه لما څخه خپل قرض وغوښت ما ورته وويل چې تر بل کال پورې راته صبر وکوه هغه وويل نشم کولى .... ما رسول الله ﷺ ته قصه تېره کړه هغه ﷺ پخپله راسره روان شو يهودي ته يې وويل : ده ته تر بل کال پورې صبر وکوه اوس دده لاس ډېر تنګ دى .

يهودي رسول الله ﷺ ته هم وويل :

نه زه ده ته نور نشم کتلى ما ته دې خپل قرض را اداء کړي .

بيا رسول الله ﷺ لاړو د خورما په باغ کې وګرځېدو بېرته راغلو بيا يې يهودي ته وويل : ده ته يو څه وخت ورکړه دده لاس تنګ دى .

يهودي بيا هم ورته وويل : نور وخت نشم ورکولى .

رسول الله ﷺ حکم وکولو چې هلته په باغ کې د کېناستلو په ځای باندې ماته څه فرش خپور کړه زه لاړم څه فرش مې ورته راوړو هلته مې ورته واچولو رسول الله ﷺ هلته د یو څه وخت لپاره ویده شو کله چې را وېښ شو بیا یهودي ته ورغلو ورته یې وویل : دده خورما وو سږ کال ښه حاصل نه دی کړی ده ته لږ وخت وګوره .

یهودي ورته بیا هم هماغه خپل ځواب ویل : زه نشم ورته کتلی زما قرض د راکړي .


رسول الله ﷺ بېرته راغلو په باغ کې ودرېدو ماته یې ویل اوس خورماوې وشکوه .... دی ❽ فرمایي ما خورماوې شکولې داسې خورماوې په ونو کې را پیدا شوې چې زه یې په شکولو پسې نه رسېدم ډېرې زیاتې شوې د یهودي قرض هم پکې خلاص شو او ماته هم ښې ډېرې پاتې شوې .



# په خلکو باندې د رسول الله ترحم

یو صحابي د رسول الله ﷺ په مجلس کې حاضر شو او د خپل امام نه یې ورته شکایت وکولو چې هغه مونځ ډېر اوږد کوي رسول الله ﷺ ته غصه ورغله او ویل یې :

تاسې خلک له دین څخه متنفر کوئ کله چې تاسې امامت کوئ نو مونځ لنډ کوئ ځکه ستاسې په جمع کې به ضعیف وي ، بېمار به وي او یا به داسې کس وي چې دهغه به کار وي او په تادي کې به وي .



## رښتونی صبر

حضرت ابو طلحه ❽ له کور نه په سفر وتلی وو او په کور کې نه وو چې دهغه يو زوی وفات شو کل چې دی بېرته له سفر نه را ستون شو چې کور ته را ورسېدو نو د خپلې بي بي نه يې پوښتنه وکوله چې هلک چېرته دی؟ هغې رضی الله تعالی عنها ورته وويل هغه ويده دی بيا يې دده په وړاندې ډوډی کېښوده او ورسره کېناسته او په خبرو کې ورسره مصروفه شوه بيا يې ورته وويل:

ابو طلحه زه لتا څخه يوه پوښتنه کوم .

حضرت ابو طلحه ❽ ورته وويل : هو! څه پوښتنه ده وکوه .

دې رضی الله تعالی عنها ورته وويل : که څوک زما سره کوم شی د امانت په ډول کېږدي بيا يو څه وخت وروسته راشي هغه لما څخه وغواړي نو هغه ته يې خپل امانت ورکول ښه خبره ده او که نه ورکول؟

ابو طلحه ❽ ورته وويل : خامخا دهغه امانت ورکول ضروري دي دهغه خپل امانت دی .

بي بي رضی الله تعالی عنها ورته وویل : بیا په هغه امانت پسي خفه کېدل په کار دي او کنه؟

ابو طلحه ⑧ ورته وویل : نه ... په هغه امانت پسي خفه کېدل بالکل مناسب نه دي هغه هسي هم د بل چا شی وو او هغه خپل شی واخیستو .

بیا بي بي رضی الله تعالی عنها ورته ویل چې داسي ده نو الله ① چې مونږ ته کوم امانت زمونږ زوی راکړی وو هغه یې بېرته را څخه واخیستو او هغه وفات شو ابو طلحه ⑧ خو خفه شو لکن څه یې هم ونه ویل او نه یې څه ډول فریاد وکولو صرف صبر یې وکولو .

کله چې سبا شو د رسول الله ❀ په مجلس کې حاضر شو هغه ❀ ته یې قصه وکوله رسول الله ❀ ورته و فرمایل : ابو طلحه الله ① دې دا شپه ستا لپاره د برکت شپه کړي هماغه وو چې له دې شپې نه الله ① حضرت ابو طلحة ⑧ ته بل ماشوم ورکړو کله چې هغه پیدا شو حضرت ابو طلحة ⑧ ډېر زیات ورته خوشحال وو په غېږ کې یې واخیست او رسول الله ❀ ته یې په مجلس کې حاضر کړو رسول الله ❀ د هغه ماشوم نوم عبد الله کېښودو او په تندې یې لاس ورته را ښکلو او کله چې عبد الله ⑧

لوی هم شو په تندي کې یې یو قسم نور ښکاره کېدو .

## د پلار دوستان پالل

حضرت عبد الله بن عمر 8 د مدینې منورې نه مکې مکرمې ته په قچر باندې روان وو ملګري هم ورسره وو حضرت عبد الله بن عمر 8 لنګی په سر کړې وه په یو ځای کې یې ولیدل یو سپین ږیری سړی دده په لور ور روان وو هغه چې را ورسېدو د احترام لپاره دی هم ورته له خپل قچر نه ښکته شو هغه سپین ږیري کلیوال سړي سلام واچولو او بیا یې دده څخه پوښتنه وکوله آیا ته د حضرت عمر 8 زوی نه یې؟

حضرت عبد الله بن عمر 8 ورته وویل : هو! یم لکن تا څنګه و پېژندلم ؟

سپین ږیري ورته وویل : زه به د حضرت عمر 8 په مجلس کې اکثر حاضرېدم هغه زما نېږدې ملګری وو اوس مې چې تاسې ولیدلی شکل مو هغه ته پاتې کیږي ماته هغه را په یاد شو .

حضرت عبد الله بن عمر 8 هغه سپین ږیري ته وویل ها دا واخله دا لنګی ته په سر کړه هغه سپین

ږيري ورته وويل نه صاحب دا ستاسي سره ښه ښکاره کيږي لکن بيا هم حضرت عبد الله بن عمر ❽ ورته تينګار وکولو او هغه ته يې لنګی ور په سر کړه .

بيا حضرت عبد الله بن عمر ❽ ورته وويل ها پدې قچر هم ته سپور شه .

هغه سپين ږيري په تينګار سره انکار وکولو ويل يې نه داسي بالکل نشي کيدلی تاسي په سفر روان ياست او دا قچر ستاسي ضرورت دی لکن حضرت عبد الله بن عمر ❽ ورته وويل نه ... ته پدې سپور شه خامخا بالآخره هغه سپين ږيری وربانديې سپور شو او روان شو .

د لارې ملګرو حضرت عبد الله بن عمر ❽ ته وويل :

عجيبه کار دې وکولو ته پخپله په سفر باندې روان يې او خپل قچر دې هغه ته ورکړو؟

حضرت عبد الله بن عمر ❽ ورته وويل : ماله رسول الله ☸ څخه آوريدلي دي هغه فرمايل :

تر ټولو نه لويه نيکي داده چې انسان د خپل پلار د وفات نه وروسته د هغه د ملګرو سره ښه رويه وکوي کله چې ماته معلومه شوه چې هغه د والد محترم ملګری وو نو ما ورسره نيکي کول غوښتل لکن پدې وخت کې زما سره بل شی نه وو چې

ما د والد محترم دي دوست ته ورکړی وای نو ځکه مي دا دواړه شيان ورکړل .

## يا فتح يا شهادت

کله چې د مصر د فتح لپاره مسلمانان په وړاندې تلل چې مصر ته ور وړاندې شول پدې وخت کې د مصر بادشاه مقوقس وو او د مسلمانانو جنګي امير حضرت عمرو بن العاص 8 وو مقوقس ده 8 ته احوال را ولېږلو چې خپل يو وفد زما خوا ته را ولېږئ مونږ ورسره خبرې کول غواړو کېدای شي کوم حل ته سره ورسېږو .

حضرت عمرو بن العاص 8 لس مسلمانان مجاهدين را ټول کړل او حضرت عبادة بن صامت 8 يې په دوی امير کړو او مقوقس ته يې د خبرو لپاره ور ولېږل کله چې د هغوی دربار ته ورغلل حضرت عبادة بن صامت 8 د خپلو ملګرو تر مخ روان وو او حضرت عبادة 8 د رنګ نه تور وو .

د مقوقس نظر چې څنګه په ده ولګېدو نو وډار شو او په ډار کې يې وويل : مسلمانان داسې وي؟ اوس به دا له مونږ سره جنګيږي؟ او يو څه نورې داسې خبرې يې وکولې او بيا يې په څه خبرو کې خپل رعب د وفد په کسانو اچول وغوښتل او يو تقرير يې ورته وکولو .

کل چې د مقوقس خبرې پای ته ورسېدې د مسلمانانو د وفد امیر حضرت عبادة بن صامت ❽ خبرې شروع کړې او د مقوقس د یوې یوې خبرې ځواب یې ورته ووېل او ورته ویې فرمایل :

له کومو خلکو نه چې زه راغلی یم په هغه کسانو کې زما په شان زر کسان نور هم موجود دي چې په رنګ کې زما څخه تور دي او شکلونه یې د هیبت او رعب نه ډک دي که ته هغوی ووینې نو ستا به څه حال وي؟ د خپل ځان په اړه به زه درته ووایم اګر که زه سپین ږیری شوی یم او زما ځواني اوس تللې ده لکن بیا هم د الله ① شکر هغه په ما کې دومره قوت اچولی دی چې زه اوس هم په یوازې ځان د سلو کسانو څخه نه ډارېږم او زما د ټولو ملګرو همدا حال دی او ددې وجه داده چې زمونږ اصلي مقصد صرف د الله ① په لاره کې جهاد کول دي او دا هرڅه مونږ صرف د الله ① د رضا د حاصلولو لپاره کوو مونږ د کوم دنیاوي مقصد لپاره زمکې تر خپلې ولکې لاندې نه راولو، د دنیا په مال کې زمونږ هېڅ ډول دلچسپي نشته که زمونږ سره یو درهم یو او یا یو لک درهمه وي په مونږ هېڅ فرق نه کوي په هر صورت کې مونږ خوشحال یو مونږ ته خپل نبي ﷺ فرمایلي دي چې له دنیا نه صرف دومره څه اخستل په کار دي چې د لوږې مخه ورباندې ونیول شي ...

داسې یو څه نوري خبرې یې هم ورته وکولې چې په مقوقس یې پوره اثر وکولو لکن بیا هم هغه کوښښ کولو چې خپل ځان زړور ښکاره کړي او دوی ته یې وویل :

تا چې د خپل ځان او خپلو ملګرو په اړه څه وویل زه وربانديې پوه شوم داصحیح ده چې تاسې هر لوري ته ځئ د فتح سره را ستنيږئ لکن دا هم په یاد لرئ چې اوس ستاسې مقابله لما سره ده او لما سره چې ستاسې مقابله شي تاسې به ماتې وخورئ تاسې زما سره مقابله نشئ کولئ او که تاسې فکر کوئ چې زما علاقه به تاسې فتح کړئ دا کار تاسې نه شئ کولئ او ستاسې لپاره خیر په دې کې دئ چې بېرته ستانه شئ ...

حضرت عبادة بن صامت په غصه کې ورته وویل : ای بادشاه ته اوس مونږ د رومیانو له لوی فوځ څخه ډاروې؟ زما د په الله قسم وي چې مونږ ستاسې د یوې ذرې پروا هم نلرو ستا خبرو په مونږ کې د جهاد جذبه نوره هم را وپاروله اوس به الله ① مونږ ته یو نعمت خامخا راکوي یا به ستا فتح راته په نصیب شي زمونږ لپاره د خوشحالي خبر دی او یا به الله ① شهادت راکړي دا زمونږ لپاره زیات دخوشحالي خبر دی او یاد ساته زمونږ په خوانانو کې څوک هم داسې نشته چې هغه سحر او ماښام له الله ① نه د شهادت سوال نه کوي .

مقوقس چې دا خبرې واورېدې له يوه پلوه دې خبرو ته حيران وو چې دا دی څه وايي او له بله پلوه دده په وړاندې د داسې خبرو جرئت ده په خپل ژوند کې نه وو ليدلی .. د وفد کسان له مجلس څخه ووتل دده سلسلې په شپږم کتاب کې هم دده خبره تېره شوې وه ...

د مسلمانانو او د مقوقس تر مشرۍ لاندې روميانو په مينځ کې جنګ وشو روميانو ماتې وخوړه الله ① مسلمانانو ته د مصر فتح نصيب کړه .

## د الله په لار کې بهترين مال مصرف کول

د حضرت ابو ذر ❽ ډېر مال وو لکن دا مال به يې ساتلو خو پيسې يې بالکل نه ورباندې ټولولې مال به يې وو خو په کور کې يې پيسې نه وې او کله به هم چې چا ته دده دمال ضرورت شو نو ده به نه ترې سپمولو يوه ورځ د بني سُليم قبيلې نه يو کس راغلو ده ته يې وويل چې زه ستاسې په خدمت کې اوسېدل غواړم صرف چې ستاسې د صحبت نه برخه من وم دا مې نېکبختي ده او که ستاسې څه کار وي نو ستاسې سره به په کار کې مرسته کوم حضرت ابو ذر ❽ ورته وويل سمه ده که دلته

اوسې نو خبره به مني او چې د کوم کار درته وويل شي نو په هماغه ډول به يې کوي چې څنګه درته حکم شوی وي سمه ده؟

هغه د بني سليم کس ورسره ومنله .

حضرت ابو ذر ❽ ورته وويل چې کله ما درنه غوښتل چې زما د مال نه د الله ① په لاره کې څه مصرف کړه ته به هغه مصرف کوې چې کوم بهترين وي .

هغه کس به دده د مال ساتنه کوله يو وخت دحضرت ابو ذر ☸ نه چا وغوښتل چې پدې ساحه کې ډېر غريب خلک اوسيږي که تاسې حکم وکوئ چې ستاسې له اوښانو څخه يو حلال شي او پدې غريبانو باندې تقسيم شي دا به ښه خبره وي .

ده خپل سليمي ملګري ته وويل ورشه زما له اوښانو څخه يو حلال کړه .

هغه کس ورغلو اول يې چې کوم اوښ خوښ شو هغه تازه نوی ځوان اوښ وو چې په بار او سپرلي وړلو کې ډېر تکړه وو ده فکر وکاوه چې جناب ابو ذر ❽ کله پدې اوښ سپريږي او کله ترينه نور د سپرلي کار اخستل کيږي او د غوښې د پاره دده د حلالولو څه فايده ؟ نو يې دا پريښودو ا

و یو بل یې را ونیولو او حضرت ابو ذر غفاري ❽ ته یې په خدمت کې حاضر کړو .

حضرت ابو ذر ❽ چې کله هغه اوښ وکتلو ورته یې وویل : سُلیمي تا خیانت کړی ..... هغه پوه شو هغه اوښ یې بېرته و ګرځولو او په ټولو کې غوره اوښ یې ورته راوستلو هغه حلال کړل شو حضرت ابو ذر ❽ وویل چې ټول کورونه شمار کړه (پدې کورونو کې دده ❽ خپل کور هم وو) او ټولو کورونو ته په یو شان غوښه ور کړئ او فام کوئ چې د ابو ذر کور ته ترینه زیاته ورنه کړئ .

بیا یې هغه خپل ملګری را وغوښت تا قصداً د حکم نه مخالفت وکولو او که سهواً ؟ (تاته حکم شوی وو چې د الله ① په لاره کې به د خرڅ لپاره بهترین شی راولې)

هغه وویل : خپله وعده مې هېره نه وه ښه راته یاده وه لکن ما وویل چې دا اوښ تاسي ته په کار کیږي هغه ستاسي د ضرورت دی نو قصداً مې هغه پرېښودو او بل مې را روان کړو .

ابو ذر ❽ ترینه پوښتنه وکوله صرف زما د ضرورت له امله دې هغه پرېښودو؟

په یاد لره چې زما د ضرورت ورځ هغه ده چې کله زه یوازې په قبر کې پریښودل شم مال به مې هرڅه په دنیا کې پاتې شي او زه به په قبر کې پداسې حالت کې پریښودل شم چې خپلوان او دوستان به مې هم راڅخه راستانه شي زما اصلي د ضرورت ورځ هغه ده ... په دنیا کې زما دومره سخت ضرورت نه پیدا کیږي چې حل یې نه وي ....



# جرجه رومي پهلوان

حضرت خالد بن وليد ❽ ته يو ځل د جنګ په وخت کې د روميانو يو پهلوان په زوره اواز سره خپلې مقابلې ته ور وغوښت دا رومي په جنګ او پهلوانۍ کې پوره شهرت درلود حضرت خالد بن وليد ❽ هم چې دهغه اواز واورېدو ورته مخه يې کړه ور روان شو کله چې هغه نېږدې ور ورسېدو ورته ويل يې :

زه څو خبرې کول غواړم ته زما خبرې واوره حضرت خالد بن وليد ❽ ورته وويل : وايه څه وايې؟

هغه رومي پهلوان جرجه نومېدو هغه ورته وويل : تر ډېره وخته مې يوه خبره په زړه پرته ده کېدای شي ته ماته صحيح ځواب راکړې .

پوښتنه داده چې آيا ستاسې الله ① ستاسې پيغمبر ته کومه توره ورکړېده چې هغه ا وس لتا سره ده چې ته يې هرچېرته را وباسې الله فتح تاسې ته درکوي؟

حضرت خالد بن وليد ❽ ورته وويل : نه د اسې هېڅ هم نشته

جرجه ورته وویل : نو بیا تا ته سیف الله ولې وایي ؟

حضرت خالد بن ولید ❽ ورته وویل : دا ځکه چې کله رسول الله ﷺ زمونږ ساحې ته پیغمبر را ولېږل شو زما نوم هم په هغه کسانو کې وو چې په سر کې تر ډېره وخته پورې مې دده مخالفت کولو بیا هغه وخت راغلو چې الله ① ماته هم هدایت وکولو بیا مې د رسول الله ﷺ په ملګرتیا باندې په جنګونو کې شرکت وکولو څرنګه چې د جاهلیت په دور کې زه ښه جنګیالی وم نو د رسول الله ﷺ په ملګرتیا کې مې هم په جنګي مهارت کې ښه نوم پیدا کړو نو رسول الله ﷺ ماته د الله توره یعني سیف ا لله لقب راکړو او هرچرته زما په نصیب فتح ځکه وي چې رسول الله ﷺ زما د کامیابي لپاره دعا کړیده او د رسول الله ﷺ هره دعا قبوله وه دا چې زه له هر میدان څخه فاتح راځم دا د هغه ﷺ د دعا برکت دی .

جرجه ورته وویل : یوه آخري پوښتنه داده چې څوک په اسلام کې داخل شي ستاسې په وړاندې دهغه څه حیثیت وي؟

حضرت خالد بن ولید ورته وویل : بیا زمونږ او د هغه حیثیت برابر شي او زمونږ او دهغه په مینځ کې هېڅ فرق نه پاتې کیږي هغه هم زمونږ

وروور شي جرجه پهلوان چې دا واورېدل له خپل آس نه ښکته شو حضرت خالد بن ولید ❽ ورته کلمه وښوده کلمه یې وویله او مسلمان شو حضرت خالد بن ولید ❽ هغه د مسلمانانو لښکر ته راوستلو د غسل او اودس طریقه یې ورته وښوده هغه غسل وکولو بیا یې د مانځه طریقه ورته و ښوده او نوروي ضروري دیني خبرې یې ورته وښودې د مسلمانانو په صف کې داخل شو او د مسلمانانو په ملګرتیا یې د رومیانو سره جنګ کول شروع کړل .

## د اسلام په بدل کې ټوله دنیا نه قبلوم

په حضرت ربیعة بن اعوان ❽ باندې د یو یهودي ډېر زیات قرض وو دده لاس تنګ وو د قرض اداء کول ورته مشکل شوي وو یوه ورځ یهودي ورته وویل که ته چېرته له خپل دین څخه زمونږ دین ته را واوړې نو دا قرض به زه ټول تاته معاف کړم .

ده ❽ ورته وویل : څومره ساده خبره دې وکوله تاته زمونږ د دین قیمت دومره کم ښکاره کیږي؟ د ایمان په بدل کې چې دا ټوله دنیا ماته

راکړي نو هم زه يې پرې نه ورکوم خير دى ستا قرض به زه اداء کړم لکن اسلام ...... د پريښودلو شى نه دى .

# په خپل دین استقامت


د تبوک غزوه د رسول الله ☸ آخري غزوه وه ذکر یې ددې سلسلې په پنځم کتاب کې تېر شوی دی پدې کې رسول الله ☸ ټولو مجاهدینو ته د تللو اعلان کړی وو ددې غزا نه دری کسان مسلمانان پاتې شوي وو چې یو پکې کعب بن مالک ❽ وو کله چې رسول الله ☸ له غزا نه بېرته ۵۰ ورځې وروسته را ستون شو نو منافقین ورته راغلل او د دروغو عذرونه یې ورته جوړول او رسول الله ☸ معاف کول لکن کعب بن مالک او دوه نورو مسلمانانو دروغ ونه ویل او پاکه خبر یې وکوله چې هېڅ عذر نه وو بس پاتې شوو رسول الله ☸ اعلان وکولو چې د دوی سره به هېڅوک خبرې نه کوي ترڅو چې حکم نه وي شوی نو د دوی سره تر پنځوسو ورځو پورې هېچا هم خبرې نه کولې دوی په خپل ژوند کې ډېر سخت په تنګ شول حضرت کعب بن مالک د شرافت لرونکی انسان وو د کفارو له لوري نه ورته لیک راغلو چې پکې لیکلي وو :

مونږ ته معلومه ده چې ستا ملګری حضرت محمد ☸ لتا څخه خفه شوی دی پدې مونږ ته زیات افسوس دی ته زمونږ خوا ته راشه مونږ به ستا ډېر قدر وکوو تاسې ته به هغه عزت درکړو چې تاسې یې وړ یاست .

ده ته چې دا لیک را ورسېدو چې څنګه یې وکتلو هغه ته یې اور واچولو او لیک راوړونکي ته یې وویل :

خپل سردار ته به دې ووایې چې مونږ خپل دین نه خرڅوو په هر حالت کې زه له خپل دین څخه تېرېدونکی نه یم بیا یې الله ① ته ژړل چې زه اوس دومره سپک شوم چې یو کافر ما ته وایي زما خوا ته راشه زه به دې قدر وکوم ؟

هروخت به یې ژړل تردې چې پنځوس شپې وروسته یو کس ورته منډه را اخیستې وه ورته ویل یې : زیری مې درباندې ستاسې په اړه رسول الله ﷺ ته وحی راغله او ستاسې توبه قبوله شوه .



# د مسکین نه بغیر خوراک نه کول

د حضرت عبد الله بن عمر 8 کور واله ته وویل شول چې تاسې جناب عبد الله بن عمر 8 ته توجه وکړئ دهغه خدمت کوئ هغه ورو ورو کمزور کیږي دې رضی الله تعالی عنها ورته وویل زه دهغه د پاره څه وکوم مونږ چې هغه ته څومره ښه خوراک تیار کړو هغه بل څوک راوغواړي او له ځان سره یې په خوراک کې شریک کړي .

د ده 8 مېرمن یو ځل داسې وکول چې د جومات سره ناستو کسانو ته یې ډوډۍ ور ولېږله او ورته یې وویل چې ها دا وخورئ لکن د حضرت عبد الله بن عمر 8 په مخ کې سوال ته مه کېنئ او کله چې ده درپسې احوال هم در ولېږلو نو بیا مه راځئ .

کله چې عبد الله بن عمر 8 ته خوراک کېښودل شو نو ویې ویل ورشئ هغه فلانی او فلانی مسکین هم راولی چې لما سره خوراک وکوي څرنګه چې هغوی ته ویل شوي وو چې تاسې به دده 8 د غوښتلو سره هم نه راځئ نو هغوی د راتلو نه انکار وکولو حضرت عبد الله بن عمر 8 وویل نو بیا ستاسې دا مطلب دی چې زه هم باید خوراک ونه

کوم .... او په هغه شپه باندې ده ❽ هم ډوډۍ ونه خوړه .

## د جهاد جذبه

حضرت عمرو بن جموح ❽ (پوره قصه یې ددې سلسلې په څلورم کتاب کې تېره شوه) له هغه کسانو څخه وو چې د عذر له امله له جهاد څخه معاف وو دا په پښه باندې ګوډ وو سره ددې چې په ده باندې جهاد ته تلل فرض نه وو لکن دده ډېر زیات شوق وو چې لاړ شي د احد د غزا په وخت کې یې وویل چې زه ځم زامنو یې ورته وویل : الله ① ته له جهاد څخه معاف کړی یې او ته معذور یې ته په کور کې پاتې شه د کور نورو خلکو هم ورته وویل لکن ده پدې ټینګار کاوه چې زه به خامخا ځم .

کله چې رسول الله ☸ ته وړاندې شو نو رسول الله ☸ یې زامنو ته وویل :

مه یې منعه کوئ کېدای شي الله ① ورته شهادت نصیب کړي .

حضرت ابو طلحه ❽ فرمایي ما په میدان کې حضرت عمرو بن جموح ❽ ولید چې ګوډ ګوډ روان وو د کفارو په یو ټولي یې حمله وکوله او تر شهادت پورې ښه په مېړانه و جنګېدو کله چې رسول الله

☸ هغه ولید چې په میدان کې شهید پروت وو رسول الله ☸ وفرمایل : لکه زه چې دی وینم په جنت کې پدې ګوډه پښه باندې ګرځي .

دده یو زوی هم په احد کې شهید شوی وو د دوی د کور خلکو او دده مېرمن دواړه جسدونه په اوښ بار کړل مدینې منورې ته یې روان کړل غوښتل یې چې په مدینه منوره کې یې دفن کړي لکن اوښ به یې چې څومره د مدینې منورې لورې ته تاو کړو هغه به نه تلو او چې لږ به یې حرکت ورکړو بېرته به یې مخ احد طرف ته کړو رسول الله ☸ ته یې وویل : ددې اوښ سره څه وکوو مونږ دا جسدونه مدینې ته وړل غواړو لکن دا نه ځي ؟

رسول الله ☸ ورته وفرمایل : هو ! اوښ ته همداسې امر شوی دی چې د احد لورې ته به ځي او مدینې منورې ته به نه ځي بیا هماغلته په احد کې ۷۰ کسان صحابه رضي الله عنهم دفن کړل شول .

# د پلار قرضونه خلاصول

د حضرت جابر بن عبد الله انصاري 8 څخه روایت دی چې زما پلار په احد کې شهید شو په هغه باندې زیات قرضونه وو ما په کور کې موجوده خورما قرض دارانو ته وړاندې کړې هغوی قبولې نه کړې بیا زه حیران وم چې د خپل پلار قرض له څه نه خلاص کړم اضافي پیسې زمونږ په کور کې نه وې او هغه خورما د ټولو قرضونو په بدل کې کافي هم نه وې .

زه راغلم رسول الله ﷺ ته مې وفرمایل : یا رسول الله ﷺ تاته معلومه ده چې زما محترم والد په غزوة احد کې شهید شو اوس په هغه باندې ډیر زیات قرض دی ما دا عرض کولو که تاسې زمونږ کور ته تشریف راوړئ کېدای شي ستاسې له مخ نه ځینې قرض واله خلک لما سره رعایت وکوي رسول الله ﷺ راته وفرمایل څه لاړ شه او ټولې خورما سره بېلې بېلې کړه زه کور ته راغلم او هرډول خورما مې سره بېلې بېلې کړې او بیا مې رسول الله ﷺ را وغوښت رسول الله ﷺ چې کله تشریف راوړو په خورما کې چې کومې ډیرې وې د هغې خوا ته ورغلو او د هغې سره کېناستو او ماته یې وویل اوس دې قرض لرونکو ته ووایه چې راشي هغوی راتلل رسول الله ﷺ ورته خورما وزن کولې او

هغوى ته يې وركولې تردې چې زما د والد صاحب قرض په مكمله توګه خلاص شو او ما به ګمان كولو چې كېداى شي زه صرف د پلار قرض وربانديې خلاص كړم او كه كور ته پاتې نه شي نو خير دى لكن رسول الله ﷺ چې زما د پلار تول قرض هم خلاص كړو خورما همدومره وې لكه څومره چې وې بالكل نه ښكاره كېدلې چې څه شى ترېنه كم شوي دي .



# د بل مسلمان ضرورت له خپل نه وړاندي کول

حضرت ابي ذر غفاري 8 يوه ورځ چا پداسي حالت کي وليدلو چي زړه جامه يې پر ځان وه په حيرانتيا سره يې ورته کتل ورته ويل يې : ستا سره په کور کي بله جامه نشته چي دا زړه جامه دي آغوستي ده ؟ حضرت ابو ذر 8 ورته ويل که مي بله جامه درلودلی نو تا به زما په ځان ليدلي وه هغه کس ورته ويل : لږ وخت وړاندي چي ما ستا په ځان کي يوه نوي جامه ليدلي وه هغه څه شوه؟

حضرت ابو ذر 8 ورته وويل : ما وليدل چي يو څوک زما څخه زيات د هغه جامي حقدار وو او لما څخه يې ورته زيات ضرورت وو هغه جامي مي هغه کس ته ورکړه .

هغه کس ورته په مسکا کي وويل : تاسي چي اوس دا زړه جامه په ځان کړيده لتاسي څخه زيات حقدار بيا بل څوک وو په کار وه چي ددي زړي جامي په ځای تاسي پخپله هغه شکلي جامه استعمال کړي وای ؟

حضرت ابو ذر 8 ورته وويل :

ﷲ ① د تاته بښنه وکوي تاته صرف د دنیا ژوند ډېر معتبر دی دا په دنیا کې هرشی له انسان څخه پاتې کیږي انسان ته په قبر کې او له هغه څخه وروسته صرف هغه څه په کار کیږي چې ده په خپل ژوند کې چاته د ﷲ ① په نوم او د ﷲ ① د رضا لپاره ورکړي وي دا د غریبانو او حاجت لرونکو سره مرسته کول هغه څه دي چې انسان یې له ځان سره د آخرت په سفر باندې د توښې په توګه وړي د هغه جامې په اړه ما ولیدل چې هغه کس ترما څخه ډېر مجبور وو ما دهغه ضرورت په خپل ضرورت باندې مخکې کړو .

## د حضرت عبادة بن صامت وصیت

حضرت عبادة بن صامت ❽ جلیل القدر صحابي وو کله چې دده د وفات وخت را نیږدې شو نو یې امر وکولو چې زما خادمان، غلامان خپلوان همسایه ګان او هغه کسان چې زما سره یې ناسته ولاړه وه ټول زما خواته را ټول کړئ .

کله چې دده متعلقین او خادمان او د محلې خلک دده خواته را ټول شول نو دوی ته یې وویل :

ماته داسې ښکاره کیږي چې نن زما د دنیا څخه آخري ورځ او د آخرت مې لمړی شپه ده او ماته

نه ده معلومه کېدای شي زما په ژبه یا زما په لاس تاسي ته کوم تکلیف در رسېدلی وي او الله ① به د قیامت په ورځ ما په هغه کې ونیسي ددې امله زه غواړم چې په تاسي کې دې یو یو ماته راشي که ما وربانديې کوم ظلم کړی وي مخکې ددې چې زما روح زما له بدن څخه بېل شي لما څخه د خپل بدل واخلي بیا ټولو خلکو په یو ځل ورته وویل :

جناب تاسي زمونږ د پلار په ځای وئ تاسي به هروخت مونږ ته ښې خبرې کولې او مونږ ته به مو سمه لاره ښوده او مونږ ته به مو نصیحت کولو او نور خلک خو پرېږده ستاسي خادم ته هم نه دي په یاد چې تاسي وربانديې څه ظلم کړی وي او یا مو هغه خفه کړی وي .

کله یې چې خلکو څخه دا خبرې واورېدې زیات ورته خوشحال شو او ویې ویل ای الله ① ته د دوی په دې اقرار بانديې ګواه اوسه .

بیا یې خلکو ته وویل :

که تاسي ټولو زه معاف کړی وم زما د وصیت ساتنه به کوئ زه تاسي ته یو وصیت کوم کله چې زما روح زما د تن څخه جدا شي هېڅوک به هم نه ژاړي بلکه د ژړا په ځای به لاړشئ اودس به وکوئ او ښه اودس به وکوئ جومات ته به لاړشئ او د

عبادة بن صامت په حق کې به د مغفرت دعا وکوئ
.

## رښتونی دیانت

حضرت واثله بن اسقع 8 به تجارت کولو اکثر به یې اوښان خرڅول او اخیستل یوه ورځ یې یو اوښ په چا باندې خرڅولو هغه کس راغلو اوښ یې وکتلو پوښتنه یې وکوله په څو دی؟ ده 8 ورته وویل په دری سوه درهمه هغه کس اوښ وکتلو او ترې تاو شو او خوښ یې شو دری سوه درهمه یې ورکړل اوښ یې ترې واخیست روان شو .

کله چې هغه سودا ګر لاړو نو حضرت واثله بن اسقع 8 ته ور په یاد شوه چې دهغه اوښ په پښه کې یو عیب وو دده هېر وو چې هغه کس ته یې ښکاره کړی وای نو یې سم د لاسه دهغه کس لټون شروع کړو خلکو ته به یې د هغه کس حلیه ښودله او پوښتنه به یې ترې کولو تردې چې د ډېرو ګرځېدلو وروسته یې سودا ګر پیدا کړو پوښتنه یې ترې وکوله .

تا دا اوښ د څه شي لپاره واخیستو؟

هغه ورته وویل : ولې دا پوښتنه کوې؟

حضرت واثله 8 ورته وویل څکه که چېرته دا اوښ تا د سپرلی لپاره اخیستی وي نو زه تاته ویل

غوارم چې ددې اوښ په پښه کې يو عيب دی دا چې لږ منزل وکوي نو بيا گوډ گوډ کيږي او په منزل کې تکړه نه دی .

سوداگر ورته وويل : ما خو دا اوښ صرف د سپرلی لپاره اخيستی دی .

حضرت واثله 8 ورته وويل بيا خو دا اوښ تاته قيمت شو ځکه دا اوښ په سپرلی کې ډير تکړه نه دی نو يې د ۳۰۰ څخه سل درهمه بيرته سوداگر ته ورکړل .

هغه کس ورته په ډير تعجب کې وويل : دا خو تاسې پخپله ځان ته تاوان ورکړو .

حضرت واثله 8 ورته وويل : دا عارضي تاوان دی که نن مې ځان ته تاوان ورکړو انشاء الله د سبا په سودا کې به يې پوره کړم په دنيا کې هره گټه او تاوان عارضي شيان دي نن وي سبا نه وي دا سپين او سره زر دلته تلونکي او راتلونکي شيان دي په دې باندې هيڅ اعتبار نه وي لکن ايمان چې کله لاړ شي بيا هرشی لاړ شي او مونږ د رسول الله ☸ سره بيعت کړی دی چې په هيڅ صورت کې به د مسلمان ورور سره خيانت نه کوو هغه ☸ به مونږ ته فرمايل : که په کوم شي کې خرابي وي او خرڅونکی يې اخستونکي ته عيب ونه وايي او ورباندې خرڅ يې کړي نو د هغه تول قيمت

دکاندار ته حرام شو دا ځکه چې ده خپل ورور ته دوکه ورکړه کومه چې په هېڅ صورت کې روا نه ده .

## په جنت کې باغ

په یو وخت کې په مدینه منوره او ما حول کې سخته قحطي راغله خلک دېته اړ شول چې خپلې زمکې او ځایونه یې ډېر په ارزانه خرخول څرنګه چې حضرت عثمان ❽ د هغه مسلمانانو له جملې نه وو چې ښه دولت ورسره وو نو د قحط په وخت کې یې هم پیسې درلودې چا ورته وویل نېږدې یو د خورما باغ دی مالک یې مجبور دی په ارزان قېمت سره یې خرخول غواړي که دا مو اخیستی وای نو ډېره ښه به وه دا رایه دده هم خوښه شوه او د باغ د اخیستلو په نیت باندې له کور نه را ووتلو پیسې یې ورسره را واخیستې په لاره کې یې څه خلک ولیدل چې زیات وږي وو قحط یې حال زیات خراب کړی وو زړه یې وربانده وسوزیدو او په لاس کې موجوده پیسې یې ټولې وربانده وویشلې خالي لاس کور ته را ستون شو .

په کور کې خلکو ترې پوښتنه وکوله باغ دې واخیست ؟

ده ❽ ورته وویل ما ستاسي لپاره په جنت کې باغ واخیست .

## قبر د آخرت لمړی منزل

حضرت عثمان ❽ به چې قبر ته یا هدیرې ته لاړو هلته به یې ډېر سخت ژړل او کله به یې دومره وژړل چې ږیره به یې لنده شوه یوه ورځ ورڅخه پوښتنه وشوه چې کله د جنت او دوزخ خبرې کیږي ته نه ژاړې او کله چې د قبر خبر راشي تاته ډېره ژړا ولې درځي ؟

ده ❽ ورته و فرمایل : ما د رسول الله ☸ څخه آوریدلي دي هغه فرمایل :

د آخرت له منزلونو څخه لمړی منزل قبر دی که دلته چا نجات پیدا کړو ددېنه وروسته دده لپاره اساني ده او که په قبر کې هغه ته نجات په نصیب نه شو نو ددېنه وروسته کوم منزلونه چې راځي هغه ټول دده لپاره سختي ده .

## رښتونی امیر المومنین

د حضرت علي ❽ د خلافت په زمانه کې د مدینې منورې سره په لاره کې د یو مسافر اوښ مړ شو هغه فکر وکولو چې اوس په نیمه لاره کې پاتې یم لاړ به شم حضرت علي ❽ ته به سوال وکوم کېدای شي هغه راته د بیت المال څخه اوښ راکړي راغلو

مدينې منورې ته يې ځان را ورسولو چې د حضرت امير المومنين علي ❽ كور ته را ورسېدو حضرت حسين ❽ يې وليدو او د امير المومنين پوښتنه يې ورڅخه وكوله او خپل مشكل يې ورته وويل حضرت حسين ❽ ورته وويل امير المومنين به لږ وروسته لتا سره وګوري ته اوس راځه كينه دده استقبال يې وكولو او د جومات سره په حجره كې يې هغه كېنولو او كور ته لاړو ښه خوراك يې ورته راوړو مېلمه ته چې كله خوراك كېښودل شو هغه ورته وويل :

زه دا خوراك تر هغه وخته پورې نه كوم ترڅو چې د جومات په هغه طرف كې ناست غريب سړي ته هم ته اواز نه كړې هغه غريب ددې په ځاى چې وچه ډوډى له اوبو سره وخوري ښه داده چې زما سره دا خوراك وكوي هغه ته اواز وكوه چې راشي لما سره دا ډوډى وخوري .

حضرت حسين ❽ ورته مسكى شو ورته يې وويل : هغه امير المومنين ❽ دى هغه ته كه زه اواز هم وكوم هغه دا مكلفه ډوډى نه خوري هغه د خپل عادت مطابق هغه وچه ډوډى خوري .

هغه كس چې دا واورېدل سخت ورته حيران شو چې د دومره لوى سلطنت مالك امير المومنين وچه ډوډى له اوبو سره خوري؟

بيا ورغلو د امير المومنين په خدمت کې حاضر شو هغه ❽ ورته يو شه اوښ له بيت المال څخه ورکړو او رخصت يې کړو .

## جنتي اوبه

د خليفه مامون په وخت کې يو کوچى په دښته کې اوسېدو هلته زمکه ډېره تروشه وه چې په هغه زمکه باندې به باران وشو دوى به چې کومې اوبه ذخيره کړې هغه به هم تروشې وې دوى فکر کاوه چې اوبه هرچېرته همداسې وي ... په هغه وخت کې د ډېر وخت تېرېدلو نه وروسته هلته وچ کالي راغله او د هغه ځاى خلک له هغه ځاى څخه کډې کولو ته مجبور شول او هرڅوک په يو طرف ترينه کډه شول دا کوچى هم له هغه خپلې ساحې نه د لمړي ځل لپاره بهر ته را ووتلو غوښتل يې چې خليفه مامون ته ورشي او دهغه په خدمت کې سوال وکوي هغه به ورسره څه مرسته وکوي او خليفه پدې وخت کې د کوفې شاوخوا ته راغلى وو چې دلته په موجوده غرنى او ځنګلي سيمه کې ښکار وکوي دا کوچى راغلو د يو کلي سره يې په يو ځاى کې اوبه وليدې دى چې تږى شوى وو نو ورغلو دا اوبه يې وڅښلې ...... ورته حيران وو چې داسې خوږې اوبه هم وي؟ فکر يې کولو چې دا ځنګه کېدلاى شي چې تر اوسه پورې ما دومره خوږې اوبه په ژوند کې نه وې ليدلې ؟ پدې فکر

کې آخر دي نتیجې ته ورسیدو چې دا اوبه صرف الله ① ماته له خپل رحمت څخه را نازلې کړي دي او دا د جنت اوبه ده نو یې ښې ډیرې ترې وڅښلې او له ځان سره یې په خپل پتک (په سفر باندې د اوبو د وړلو لوښي) کې هم واچولې او امیر المومنین ته ورغلو کله چې دهغه په خدمت کې حاضر شو نو هغه ترې د حال پوښتنه وکوله .

ده ورته وویل زه یو غریب سړی یم په دښته کې په فلاني ځای کې مو هستوګنه وه هلته وچ کالي شوه اوبه وچې شوې د خوراک هم څه نه وو زه راغلم ستاسې په خدمت کې سوال کوم څه مدد راسره وکوئ او تاته مې له ځان سره یوه تحفه راوړې ده چې تر اوسه به بل بادشاه ته په دنیا کې نه وي ورکړل شوې دا جنتي خوږې اوبه دي .

بادشاه ورته وویل : ته راکړه چې زه یې و څښم .

بادشاه چې اوبه وڅښلې د بادشاه لپاره خو عادي اوبه وې نو یې دده څخه ددې اوبو په اړه پوښتنه وکوله ده ټوله قصه د خپل ذهن مطابق ورته وکوله .

بادشاه اوبه دده څخه ټولې واخیستې لوښي یې ترینه ډک کړل او ده ته یې شکریه وویله او ده ته یې وویل زه به لتا سره مرسته وکوم لکن په یو شرط .

کوچي ورته ویل شرط څه دی؟

خلیفه مامون ورته وویل : شرط دادی چې ته به لدې ځای څخه بېرته راساً خپل هستوګنځي ته ځې .

کوچي شرط منظور کړو .

خلیفه مامون ورته په لویه پیمانه کې سره زر په هغه لوښي کې واچول په کوم کې چې ده خلیفه ته اوبه راوړې وې او څه کسان یې ورسره کړل چې تر ساحې یې وباسي او د خپل هستوګنځي په لور یې رخصت کړي .

د خلیفه مامون څخه چا پوښتنه وکوله : تاسي دا شرط وربانديٌ ولې کېښود؟

خلیفه مامون ورته وویل : ځکه چې هغه ماته د خوړو اوبو تحفه ډېره په مینه راوړې وه او ده فکر کاوه چې دا جنتي اوبه دي او دا بل چا ته نه رسیږي نو ما وې که هغه پدې ساحه کې نور وګرځي نو هسې نه چې نورې اوبه وڅکي پوه به شي چې دلته ټولي اوبه همداسي دي نو د خپلي تحفې په اړه به خجالت شي او زه نه غواړم چې ماته څوک کوم شی دومره په مینه راوړي بیا هغه خجالت شي .

## له الله نه وېرار شه

عمیر بن هبیره د یزید بن عبد الملک له لوري نه د عراق ساحې ته والي مقرر شو کله چې دی هلته لاړو حضرت حسن بصري رحمه الله او څه نور علماء یې خپل محل ته را وغوښتل او دوی ته یې خبرې کول شروع کړل ورته ویل یې :

ﷲ ① یزید بن عبد الملک په خپلو بندګانو باندې خلیفه مقرر کړی دی او په دوی یې مشر کړی دی او زه بیا یزید بن عبدالملک پدې ساحه باندې مشر کړی یم او دلته یې د والي په صفت مقرر کړی یم ددې امله که ماته د خلیفه له لوري کوم حکم کیږي زه به هغه پدې ساحه کې پداسې حالت کې عملي کوم چې د هېڅ ولې.. او څنګه د پوښتنې ځای به پکې نه وي پدې اړه ستاسې جنابانو څه رایه ده؟


حضرت امام حسن بصري رحمه الله په ډېر اطمنان سره ورته وویل :

ای ابن هبیره ته د خلیفه یزید بن عبد الملک په اړه له الله څخه وېرار شه او د الله په حق کې کله هم د یزید بن عبد الملک څخه مه ډارېږه د ﷲ ① په نا فرماني کې د یزید بن عبد الملک خلیفه اطاعت مه کوه ځکه الله په دواړو جهانونو کې تا د یزید بن عبد الملک له شر څخه ساتلی

شي لکن یزید بن عبد الملک د الله ① په قهر کې ستاسره هېڅ مرسته نشي کولی او تا د الله ① د عذاب څخه یوه ذره هم نشي محفوظ کولی .

یاد لره ډېر زر ده چې الله ① به خپل ملک الموت ستا خوا ته را ولېږي چې تا به ستا له فراخ او لوی تخت نه لرې کړي او تا به تنګ قبر ته ورسوي او هلته به ستا د نیکو عملونو څخه بغیر هېڅ شی تاته فایده ونه کوي ددې امله ته د الله ① د حکم د منلو په مقابل کې د هېچا خبره مه منه ځکه د الله ① په نا فرماني کې د هېچا اطاعت نه دی روا .

عمیر بن هبیره چې دده رحمه الله د جرئت نه ډکې او پاکې خبرې واورېدې ورته حیران وو او پته خوله ناست وو هېڅ ځواب یې ورته ونه ویلو تردې چې امام حسن بصري رحمه الله او ملګري یې د مجلس نه پاڅېدل او روان شول.



# رښتوني غلامي

حضرت ابراهيم بن ادهم رحمه الله ته يو ځل يو تاجر وويل زما څه غلامان دي ځيني پکې ډېر د ښو خويونو خاوندان دي که تاسي هغه وګورئ زه به خوشحال شم او د ډېر وخت نه ما تول کړي دي .

حضرت ابراهيم بن ادهم رحمه الله وفرمايل صحيح ده را ويې غواړه .

هغه کس غلامان راوستل او يو يو يې دده په مخ کې درولو او دهغه چې کوم ښه صفات وو هغه به تاجر حضرت ابراهيم بن ادهم رحمه الله ته ويل .

يو غلام راغلو چې حضرت ابراهيم بن ا دهم رحمه الله ته مخامخ ودريدو نو حضرت ابراهيم بن ادهم رحمه الله ورڅخه پوښتنه وکوله :

نوم دي څه دی؟

غلام ورته وويل : غلام ته چې په کوم نوم اواز وکوي صحيح دی .

حضرت ابراهيم بن ادهم رحمه الله ورڅخه پوښتنه وکوله : په خوراک کې دي څه شی خوښ دي؟


غلام ورته وويل : د مالک خوښه ده چې څه شی هغه راکوي زه يې په خوشحالی سره خورم .

حضرت ابراهیم بن ادهم رحمه الله ورته وویل که دې په زړه کې څه ارمان وي راته ووایه چې پوره شي .

غلام ورته وویل : زه یو بې ارادې او بې اختیار نه غلام یم زه ددې حق نه لرم چې په زړه کې کوم ارمان ته ځای ورکړم یا دکوم شي خواهش ښکاره کړم .

دا خبر چې حضرت ابراهیم بن ادهم رحمه الله واورېده ډېر زیات تاثیر یې پرې وکولو او زړه ته یې دا خبره ور ننوتله چې زه هم د الله ① بنده یم او اصل غلامي او بندګي خو دا غلام د خپل مالک کوي چې خپل ټول اختیارات حتی چې زړه یې هم خپل مالک ته په اختیار کې ورکړی دی څه چې د مالک خوښه وي هغه دده خوښ دي .

په رښتیا سره هم د مالک هغه غلام ډېر خوشبیري چې هغه دده د حکم تابع وي .



# د دنیا د ژوند مثال

د حضرت مولانا روم صاحب نه چا پوښتنه وکوله د دنیا لپاره ستا سره څه مثال دی ؟

هغه وفرمایل د دنیا مثال داسې دی لکه یو انسان په ځنګل کې روان وي او وګوري چې شا ته ورپسې زمری را روان دی ددې زمرې نه منډې وهي په مخه کې یوه کنده ورته راشي هلته پکې یو لوی مار پروت وي دی منډه کړي او یو طرف ته ورته ونه ښکاره شي پدې ونه باندې وخیږي چې ښکته وګوري دوه موږکان وي یو سپین او بل تور هغه دا ونه په شریکه سره په مسلسله توګه پرې کوي دی ډاریږي چې آخر به دا موږک دا ونه ختمه کړي نو چې زه زمکې ته وغورځیږم د زمري او د مار نه خو مې بیا خلاصون نشته او په یوه دقیقه کې مې بیا خوري چې پورته وګوري هلته په ونه کې د شهدو د مچیو ځاله ووینې دی ور پورته شي د هغه شهدو په خوراک شروع وکوي او په هغه خوراک باندې دومره مصروف شي چې د زمري او مار دښمني تربنه بالکل له یاده ووزي پدې کې سپین او تور موږک ونه ختمه کړي یو دم پداسې حالت کې چې دده څخه بالکل هر شی هېر شوي وو دی په زمکه را وغورځیږي زمری یې یو طرف ته پورې وهي کندې ته وغورځیږي او د مار خولې ته ورشي .

کله چې ددې مثال تشریح ورڅخه وغوښتل شوه ده وفرمایل :

زمری مرگ دی چې په انسان پسې منډه وهي .

هغه کنده د انسان قبر دی .

په کنده کې مار د انسان بد عملونه دي چې په آخرت کې به انسان خوري .

سپین او تور موږکان د دنیا شپه او ورځ ده .

ونه د انسان عمر دی .

په ونه کې شهد د دنیا خوندونه دي چې انسان پرې آخته شي مرگ او دهغه متعلق يې هرڅه له ذهن څخه وزي .

د ونې غورځېدل د انسان یو دم عمر ختمېدل دي .

د زمري وار مرگ دی

او کندې ته غورځېدل قبر ته ورتلل دي .

# د مالک بن دینار کرامت

وایي چې د حضرت مالک بن دینار سره د الله① په وجود د یو دهري مناظره وه مختلف دلیلونه له دواړو اړخونو وړاندې کېدل نور خلک هم ډېر حاضرېدل او د دواړو کسانو دلیلونه یې آورېدل فیصله به تر دې کېدله چې نه د عقل په تقاضا کیږي او نقل به پکې نه وړاندې کیږي دا د مناظرې لوی قانون وو هرڅه چې وشول په دواړو ډلو کې یو هم ملامت نه شو د بلې ورځې لپاره خلک را وغوښتل شول فیصله په دې وشوه چې سبا به دواړه کسان په اور کې لاس اېږدي چې هرڅوک په حق وي هغه به تر ډېره وخته پورې په اور کې لاس ونیسي .

تر دې شپه مالک بن دینار رحمه الله سوالونه کول یا الله ته خو مې کافر ته ملامت نه کړې.

سبا چې په اور کې لاس کېښودل شو دواړه لاسونه ونه سوزېدل .

بیګا مالک بن دینار الله ① ته په ژړا شو چې زه ستا د یو کافر بنده سره برابر شوم؟

په یو قول چې هاتفي اواز ورته راغلو او په یو قول ي خوب یې ولید دا ستا د لاس برکت وو چې هغه په اور کې ونه سوزېدو هغه پرېږده چې یوازې په اور کې لاس کېږدي او ته یې یوازې پکې کېږده .

سبا چې داسې وشول نو دهري بايلوده او لاس يې وسوزيدو .

## بد ګماني

حضرت حسن بصري رحمه الله د دجلې د سيند په غاړه تېرېدو چې ويې ليدل يو حبشي كس دى يوه ښځه ورسره پرته ده له بوتل نه دى هم څښي او په هغه ښځه باندې يې هم څښي حسن بصري رحمه الله له ځان سره وويل : شكر چې داسې نه يم ښځه ورسره ده په خپله هم شراب څښي او په ښځه يې هم څښي څومره بد عمل كوي .

چې لږ مخكې لاړو يوه كښتى راغله چې كنارې ته نېږدې شوه څه چل پرې وشو او ډوبه شوه لس كسان پكې سپاره وو هغوى ټول ډوب شول هغه حبشي كس ور ټوپ كړل او نه كسان يې يو په بل پسې را وويستل او حسن بصري رحمه الله ورته كتل يې نهم كس يې كله را وويستو حبشي ورته وويل :

د مسلمانانو امامه اوس هغه لسم كس ته را وباسه چې ښكاره شي څوک ښه دي؟

دا ښځه چې زما په خوا كې ده دا مې مور ده .

پدې بوتل كې خالصې اوبه دي مونږ يې څښو .... بد ګماني ښه شى نه ده .

حسن بصري رحمه الله په عاجزی کې ورغلو او د هغه حبشي نه يې بښنه وغوښته .

## زه غلام يم

حضرت ابراهيم بن ادهم رحمه الله چې يوه ورځ په ډېرو کمزورو جامو کې د ځنګل په خوا روان وو له هغې خوا نه يو فوځي ورباندې راغلو چې په ښه شان او شوکت کې په آس باندې سپور وو دده څخه يې پوښتنه وکوله :

ته غلام يې ؟

ده رحمه الله ورته وويل : هو

بيا هغه ډېر په دبدبه کې ورڅخه پوښتنه کوله : ابادي کوم لور ته ده؟

ده رحمه الله ورته د هدېرې لورى وښودو او ورته يې وويل ابادي دېخوا ته ده .

هغه ورته غصه شو او په ده يې د لرګي وار وکولو چې ته يو غلام اوس ما غلطول غواړې ؟ بيا يې له ځان سره په کشکولو باندې ښار ته را روان کړو چې په لاره کې چا وليدو ورته يې ويل : دا ته څه کوې ؟ ته د زماني د ولي الله ابراهيم بن ادهم رحمه الله دومره بې عزتي کوې؟ هغه زر

لـه آس نـه ورتـه را شكـته شو او پـښو تـه ورتـه تـيـتې شو بـښـنـه يـې تـرې وغـوښـتـه .

بـيـا يـې ورتـه وويـل : مـا چې تـاتـه وويـل تـه غلام يـې نـو تـا ولـې راتـه ووې چې هو؟

ده رحمـه الله ورتـه وويـل : ځكـه زه هم د الله بـنـده او غلام يـم .

هغه فـوځي ورتـه وويـل : مـا چې لـتـا ښخه د ابـادي پـوښـتـنـه وكـولـه تـا ولـې هديـرې تـه راتـه لاره وښوده ؟

ده رحمـه الله ورتـه وويـل : ځكـه د دنـيـا ابـادي خو عـارضي ده اصلـي ابـادي خو هغـه پـه هديـره كـې ده چې خـوک دلـتـه راشي بـيـا هغـه تـر قـيـامـتـه پـورې همدلـتـه وي .

# د الله په وجود صرف يو دليل

حضرت رابعه بصري رحمها الله د الله ① څخه زياته ډاريدونکي او عابده ښځه وه يو وخت چې دهغې په مجلس کې وويل شول يو چا د الله ① په وجود باندې زر دلائل را ټول کړي دي دې رحمها الله وخندل بيا يې وويل :

د الله ① په وجود باندې صرف يو دليل بس دی د دومره زيات تکليف څه ضرورت وو؟

چا ورڅخه پوښتنه وکوله چې کوم يو دليل؟

دې ورته وويل که څوک په لاره روان وي په دښته کې په کوهي کې وغورځيږي او دهغه يقين وي چې دلته دده اواز اوس هيڅوک هم نه آوري نو بالآخره چې دی له هرچا نا اميده شي دی به چا ته اواز کوي چې راشه خلاص مې کړه ؟

چا ورته وويل : الله ته .

دې وويل خو بس همدا ددې دليل دی چې داسې څوک شته چې په مشکل وخت کې مونږ کله له ټول مخلوق نه نا اميده شو بيا همغه ته اواز کوو او هغه زمونږ اواز اوريدلی شي .


لا جواب

حسن بصري رحمه الله به ويل زه يو ماشوم ډېر زيات بې ځوابه کړی وم .

يوه ورځ مې يو ماشوم وليدو چې شمع يې لګوله ما هسې په ښه طبيعت کې ورځخه پوښتنه وکوله او ورته مې وويل : بچيه ته ماته ويلی شې چې دا رڼا له کوم ځای نه راځي؟

هغه زر شمع پوه کړه او ګل يې کړه بيا يې ماته وويل : اوس ته ماته ويلی شې چې دا رڼا چېرته لاړه؟ اول ته ماته ووايه بيا به زه تاته ووايم چې رڼا له کوم ځای نه راځي .

زه بس ورته چپ شوم او تري روان شوم .



# جرم او سزا باید برابر وي

یو کس راغلو رسول الله ☸ ته یې عرض وکولو ویل یې یا رسول الله ☸ زما یو څو غلامان دي چې هغه لما سره اکثر درواغ وایي ، خیانت کوي ، نا فرماني کوي زه هغوی ته خبرې هم ډېرې کوم او کله کله هغوی ته وهل هم ورکوم لکن هغوی د خپلو بدو کارونو څخه نه منع کیږي له دوی سره څه وکوم ؟

رسول الله ☸ ورته وفرمایل : دهغوی خیانت کول، د هغوی درواغ ویل، د هغوی نا فرماني کول ستا رټل او هغوی ته سزا ورکول دا دواړه سره برابر دي نه تاته تاوان شته او نه فایده .

او که ستا سزا د هغوی له جرم څخه زیاته وي نو په آخرت کې به لتا څخه د هغوی د حقونو بدل اخیستل کیږي حضرت عائشه ❽ فرمایي هغه کس پاڅېدو د مسجد نبوي په یوه کوټ کې کېناستلو او په سلګو سلګو یې ژړل بیا رسول الله ☸ ورته و فرمایل :

ولې تا نه دي آورېدلي چې الله ① فرمایي :

وَنَضَعُ ٱلۡمَوَٰزِينَ ٱلۡقِسۡطَ لِيَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ فَلَا تُظۡلَمُ نَفۡسٞ شَيۡـٔٗاۖ وَإِن كَانَ مِثۡقَالَ حَبَّةٖ مِّنۡ خَرۡدَلٍ أَتَيۡنَا بِهَاۗ وَكَفَىٰ بِنَا حَٰسِبِينَ ﴿٤٧﴾

ترجمه : او د قيامت په ورځ به مونږ د عدالت تله كېږدو په هېڅا باندې به هم يوه ذره ظلم نه كيږي كه څه شى د يوې ذرې برابر هم وي مونږ به هغه هلته حاضر كړو مونږ بس يو د حساب كونكو په حيث .

بيا هغه كس را پاڅېدو او رسول الله ﷺ ته يې وفرمايل : يا رسول الله ﷺ زما او دهغوى لپاره به ښه دا وي چې زه هغوى ازاد كړم اوس يا رسول الله ﷺ ته پدې ګواه شه چې ما هغوى ازاد كړل .



# د زيد بن حارثه 8 کرامت

حضرت زيد بن حارثه 8 يو ځل د طائف نه راتلو په کرايه يې يوه قچر نېولې وه د قچر مالک هم ورسره روان وو د شپې يې منزل کولو چې د قچر مالک قچر يو ځای ته تاو کړه او ويې درولـه چې کله زيد بن حارثه 8 وکتل هلته د انسانانو هډوکي پراته وو او د مړيو اثار وو نو معلومه شوه چې دا د قچر مالک غل دی او اوس زيد بن حارثه 8 هم قتل کول غواړي او دهغه سره موجود مال ترېنه اخستل غواړي زيد بن حارثه ورته ډېرې خبرې وکولې لکن کار ونشو تول مال يې ورته ومنلو او لوی مبلغ پيسې يې ورته ومنلې لکن هغه غل په هېڅ شي هم نه رضا کېدو تردې چې هغه دده د مرګ کلکه اراده وکوله پدې وخت کې زيد بن حارثه 8 ورته ووېل ښه ده نو تر مرګ خو وړاندې د دوو رکعتونو مونځ اجازه راکړه .

هغه ورته په مسخرو کې ووېل : ښه ده مونځ وکوه لکن دا چې ګورې په دوی کې هم ډېرو خلکو مونځونه کړي وو لکن څه فايده يې ورته نه وه کړې کله چې ده مونځ ختم کړو هغه توره را وويستله او ورته را روان شو حضرت زيد بن حارثه چې خالي لاس وو او دهغه د مقابلې يې هېڅ هم نه درلودل په زوره يې چېغه کړه يا ارحم الراحمين په هوا کې غيبي اواز ورته راغلو چې

ورته ویل یې : لا تقتله (مړ یې نه کړې) هغه کس حیران شو او شاوخوا ته یې په توره تیاره کې وکتل هېڅوک هم نه ښکاره کېدل فکر یې وکاوه چې هسې زما وهم دی او بېرته یې قتل ته ځان تیار کړو چې زید بن حارثه بیا ا واز وکولو یا ارحم الراحمین په غله باندې بیا اواز وشو لا تقتله (مړ یې نه کړې) غل وډار شو او ترې وروسته شو بیا یې شاوخوا ته وکتل هېڅ شی یې ونه لیدل بېرته یې عزم وکولو چې ورته را نېږدې شو حضرت زید بن حارثه ❽ بیا اواز وکولو یا ارحم الراحمین بیا تېز اواز وربانديې وشو چې مړ یې نه کړې پدې کې یو کس را غلو چې په آس باندې سپور وو لکه باد داسې راپیدا شو او په هغه غله باندې یې د نیزې وار وکولو نیزه ترینه بل طرف ته ووتله او مړ شو .

زید بن حارثه ❽ چې ډېر زیات ډار شوی وو دې سپاره ته یې وویل : الله ① د تا ته اجر درکړې څوک یې؟

هغه ⌛ وویل زه د اوم اسمان پرښته یم ستا په اول اواز سره ماته حکم وشو چې مرستې ته ور ښکته شه ستا په دویم اواز سره زه د ځمکې په اسمان کې وم او ستا د دریم اواز سره زه تاته نېږدې وم (البدایة و النهایة جلد ٤ صفحه ٤٥ (حاشیه))

# حديث الكفل

حضرت عبد الله بن عمر ❽ فرمايي چې په بني اسرائيلو کې يو کس وو الکفل نوميدو د هغه کيسه يو ځل نه دوه ځلي نه څو ځلي له رسول الله ﷺ څخه آورېدلي ده رسول الله ﷺ دهغه کس په اړه فرمايل :

په بني اسرائيلو کې يو کس وو چې الکفل نوميدو زيات بد عمل انسان وو هېڅ داسي ګناه نه وه چې له هغه څخه پاتې وه يوه ورځ هغه د يوي بې ګناه مظلومې ښځې خوا ته راغلو هغه چې لوږې ډېره وږپسې اخيستې وه او د ماشومانو د خوراک يې هم څه نه درلودل دهغې د غربت او مجبوري نه يې فايده پورته کول غوښتل او هغې ته يې وويل ته ماته د بد عمل اجازه راکړه زه به تاته شپېته اشرفۍ (ديناره) درکړم او دا په هغه وخت کې ډېر لوی مال وو څرنګه چې دا لوږې او د ماشومانو غم پسي اخيستې وه نو يې ورسره ومنله کله چې هغه په خپل وخت باندې ورته راغلو نو ويې ليدل چې ښځه ژاړي او رېږدي ډی ورته حيران شو او يو څه غصه شو چې ژاړې ولې؟ زه خو په تا باندې څه په زور کوم کار نه کوم هغه څه کوم چې تا خپله راسره منلي ده ولې ما تاته ددې پيسې نه دي درکړي؟

هغه پاکې ښځې ورته په ژړا کې وويل نه داسې څه خبره نه ده چې ته لما سره زور کوې لکن داسې کار کېدونکی دی چې ددېنه وړاندې کله نه دی شوی نو بیا الکفل ورته وویل : بیا یې لما سره ولې کوې؟

ښځې ورته وویل : لوږې او تندې تردې ځایه پورې را کش کړې یمه .

ا لکفل ورته وویل : آیا ته دا د خپل مجبوریت او بې وسي له امله کوې؟

ښځې ورته وویل : هو صرف د مجبوریت له امله .

الکفل یو دم پورته شو ورته یې وویل : څه هغه دینار په خپل ضرورت کې مصرف کړه ماته ستا ضرورت نشته زه تاته هېڅ هم نه وایم .

دې هرڅه یې په زړه باندې تاثیر وکولو او کور ته لاړو رښتونې توبه یې وویسته سر یې په سجده باندې الله ① ته کېښودو او توله شپه یې الله ① ته وژړل او تول گناهونه ورته یادېدل دا غم یې په زړه باندې بوج شو او د سحر کېدو نه مخکې په حق ورسېدو .

د هغه وخت پیغمبر یې سحر وختې د کور د مخې سره تېرېدلو چې په دروازه باندې یې په نور سره لیکلي وو ( ان الله قد غفر الکفل) یعني الله کفل ته بښنه وکوله .

# رښتونی اطاعت

حضرت عبد الله بن عباس ❽ فرمايي يو كس راغلو د رسول الله ☸ سره كېناستو په ګوته كې يې د سرو زرو ګوتمه وه رسول الله ☸ چې وليده د هغه له لاس نه يې ګوتمه را واخيسته او ويې غورځوله بيا يې وفرمايل :

تاسې اور ولې په ګوته كوئ؟

مطلب يې دا وو چې د سرو زرو استعمال د نارينه وو لپاره نا روا دی نو بيا يې تاسې ولې استعمالوئ ؟

كله چې رسول الله ☸ لاړو ځينو خلكو صحابي ته وويل : اوس خو رسول الله ☸ لاړو اوس خو يې را واخله .

هغه وفرمايل : زما د قسم وي چې رسول الله ☸ كوم شی غورځولي وي زه يې نه را اخلم .

# جنت د تورو تر سیوري لاندې

د حضرت ابو موسی اشعري ❽ زوی ابوبکر رحمه الله فرمایي ما خپل پلار ولیدو چې د جنګ د صف په مخ کې ولاړ وو فرمایل یې رسول الله ﷺ فرمایلي دي :

ان الجنة تحت ظلال السیوف

ترجمه : جنت د تورو تر سیوري لاندې دی .

پدې وخت کې د مسلمانانو له صفونو څخه یو کمزوری مجاهد را ووتلو زما د والد محترم نه یې پوښتنه وکوله :

آیا دا حدیث تا له رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی ؟

زما والد محترم ورته وویل هو ! ما پخپله آوریدلی دی .

هغه مجاهد بېرته راغلو د مسلمانو صف ته و دریدو سلام یې وکولو او بیا یې توره را وویسته او په یوازې ځان یې د کفارو په صف داسې حمله وکوله چې دهغوی نظم یې ورته ګډ وډ کړو تردې چې شهید شو . (ترمذي)

## حضرت خريم الاسدي ❽

حضرت حنظله ❽ يو جليل القدر صحابي وو د وخت زيات مراعات يې کولو او ټول وخت به يې په ذکر او فکر کې تېرولو او د الله ①

په عبادت به مصروف وو ده يو وخت ويل : يو وخت يو نوى مسلمان کس چې خريم الاسدي نوميدو د کليوالي علاقې نه راغلى وو يو څه وخت د رسول الله ☸ په مجلس کې ناست وو چې پاڅېدو رسول الله ☸ وويل :

نعم الرجل خريم الاسدي لولا طول جمته و اسبال ازاره

ترجمه : خريم الاسدي ښه سړى دى که يې د سر ويښته لنډ وى او پرتوګ يې اوږد نه واى .

حضرت خريم الاسدي ❽ چې خبر شو په هماغه وخت يې قيچي را واخيسته ويښته يې د غوږونو سره برابر غوڅ کړل او پرتوګ يې د پنډيو تر نيمى پورې ور پورته کړې .

# ثابت بن قیس 8

حضرت ثابت بن قیس 8 جلیل القدر صحابي وو څو ورځې د رسول الله ☸ له مجلس نه غیر حاضر وو رسول الله ☸ پوښتنه وکوله چې ثابت بن قیس نه ښکاره کیږي ؟

یو کس وفرمایل : که ستاسي اجازه وي نو زه به یې خبر راوړم .

رسول الله ☸ ورته اجازه ورکړه هغه صحابي ورغلو حضرت ثابت بن قیس 8 یې ولیدو چې په کور کې وو او غمګین ناست وو صحابي 8 ورڅخه پوښتنه وکوله څه خبره ده؟ طبیعت دي ښه دی؟ د رسول الله ☸ مجلس ته ولې نه راځې؟

حضرت ثابت بن قیس 8 ورته وویل : زه پدي خفه یم چې په رسول الله ☸ باندي آیت نازل شوی دی الله ① فرمایي :

سورة الحجرات آیة ۲

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَرۡفَعُوٓاْ أَصۡوَٰتَكُمۡ فَوۡقَ صَوۡتِ ٱلنَّبِيِّ وَلَا تَجۡهَرُواْ لَهُۥ بِٱلۡقَوۡلِ كَجَهۡرِ بَعۡضِكُمۡ لِبَعۡضٍ أَن تَحۡبَطَ أَعۡمَٰلُكُمۡ وَأَنتُمۡ لَا تَشۡعُرُونَ ۝٢

ترجمه : اى مومنانو تاسي خپل اوازونه د رسول ﷲ په اواز مه پورته كوئ او مه د هغه سره په لوړ اواز سره خبري كوئ لكه تاسي چې په خپل مينځ كې خبري كوئ هسې نه چې ستاسي عملونه له مينځه په داسي حالت كې لاړ نه شي چې تاسي به ورباندي پوه نه شئ .

حضرت ثابت بن قيس 8 وفرمايل : زما اواز په پيدائشي ډول باندي لوړ دى په عامو خبرو كې هم زه په زوره خبري كوم كه د رسول ﷲ ☸ په وړاندي زما اواز پورته شي زما عملونه به له مينځه ولاړ شي او زه به ورباندي خبر نه وم ددې امله ډاريږم د رسول ﷲ ☸ په مجلس كې نشم حاضريدلى .

په حضرت ثابت بن قيس 8 پسې راغلي صحابي 8 چې دا خبره واوريده راغلو د رسول ﷲ ☸ خدمت ته يې د حضرت ثابت 8 عذر وړاندي كړو رسول

الله ﷺ همدي صحابي ؓ ته وويل چې ورشه زيرى ورکړه چې انک لست من اهل النار ولکن من اهل الجنة يعني ته د جنتيانو له جملې څخه يې ته د دوزخيانو له جملې څخه نه يې .

ددېنه وروسته حضرت قيس بن ثابت ؓ به د رسول الله ﷺ مجلس ته راتلو لکن کله به يې چې خبرې کولې په داسې ښکته اواز سره به يې خبرې کولې چې اکثر به ددې ضرورت کېدو چې آورېدونکي به ورته ويل بيا راته ووايه ما وانهورېدل .

## د خپلې ښځې قتل

يوه ورځ سحر وختې په مدينه منوره کې شور ګډ شو چې چا ښځه وژلې ده يا فلانى ښځه قتل کړل شوېده د رسول الله ﷺ په زمانه کې دا واقعې ډېرې عجيبې او نا اشنا وې ددې امله به چې کله واقع شوه نو خلکو به وربانددې ډېرې خبرې کولې اعلان وشو چې هرچا دا قتل کړى وي ځان د رسول الله ﷺ ته حواله کړي .

کله به چې کوم جرم وشو نو داسې اعلان به وشو په هغه وخت کې به چې چا هم دا کار کړى وو هغه به ځان رسول الله ﷺ ته حواله کولو که هر جرم به وو لکن نن د يو څه وخت د تېرېدلو سره سره بيا هم ددې جرم مرتکب پيدا نه شو چې څه نور وخت

تېرشو ښکاره شوه چې د خلکو د مينځ نه يو کس را ووتلو په دواړو سترګو ړوند وو او مسجد نبوي ته ننوتلو او د رسول الله ﷺ په مجلس کې حاضر شو ويل دا قتل ما کړی دی .

دا زما ام ولد وه ( داسي وينزه وه چې زما اولاد هم وو تري) او ما ورسره نکاح هم کړې وه او زما ورسره مينه هم وه او له هغې نه مې دوه بچي هم دي په ما باندې زياته ګرانه وه لکن يا رسول الله ﷺ مشکل دا وو چې هغې ستاسې په اړه ګستاخي کوله هروخت يې ستاسې په اړه بدې خبرې کولې ما بيا بيا هغه منع کړه لکن هغه منع نه شوه ما به چې هغه څومره پوه کوله هغې به نوره هم ګستاخي کوله ما به هغې ته نصيحت کولو هغې به نوره ګستاخي هم کوله ما ورسره هر ډول کوښښ وکولو لکن هېڅ تاثير يې ونه کولو .

يا رسول الله بيګاه شپه ما ستاسې ذکر وکولو هغې د خپل بد عادت مطابق ستاسې په اړه بد الفاظ وويل ما د هغې پوه کول شروع کړل لکن هغې خپله ګستاخي بس نه کړه .

يا رسول الله ﷺ زما صبر ورته ختم شو ما له ځان سره فيصله وکوله چې ددې ښځې نه به ځان خلاصوم .

کله چې هغه ويده شوه ما خپله لويه چاړه را واخيسته او دهغې په ګېډه کې مې ور ننه ايسته او شا لور ته مې تري وويسته او تر هغه وخته پورې مې وربانديې زور کړى وو چې ترڅو هغه مړه شوه .

نو اى رسول الله ﷺ دا قتل ما کړى دى اوس ستاسې مرضي څه حکم چې کوئ دادى زه ستاسې په خدمت کې حاضر يم .

دده له خبرو په رسول الله ﷺ او په ټولو حاضرينو باندې يو کيفيت راغلى وو چې ده د خپلو جذباتو ښکارونه په څه ډول کوله يوڅو لحظې نه وې تېرې شوې چې جبريل عليه السلام راغلو او رسول الله ﷺ ته يې وويل : رب العالمين ددې ښځې قتل روا کړى دى .

رسول الله ﷺ هغه صحابي ؓ ته وويل څه لاړ شه مونږ تاته هېڅ هم نه وايو اوس جبريل ؑ رغلى وو او ويل يې الله ۱ ددې ښځې مرګ تاته روا کړى دى (صحيح النسائي )

## د جهاد جذبه

د اسلم قبيلې يو کس رسول الله ﷺ ته راغلو ورته ويل يې :

زما زړه غواړي چې لتا سره جهاد ته لاړشم لکن لما سره هيڅ شی نشته د جهاد سامان نه لرم

رسول الله ﷺ ورته يو بل صحابي ياد کړو ورته يې وويل هغه د جهاد لپاره ټول سامان تيار کړی وو هغه يو دم بېمار شو او هغه جهاد ته نشي تلی ورشه زما سلام ورته ووايه ا و ورته ووايه چې هغه د جهاد سامان دې تاته درکړي .

کله چې ورغلو هغه ناروغ صحابي ته يې دروازه و ټکوله هغه ته يې د رسول الله ﷺ سلام ورسولو او بيا يې د رسول الله ﷺ پيغام هم ورته ورسولو .

هغه صحابي خپلې بي بي ته وويل :

دې مجاهد ته زما د جهاد مکمل سامان ورکړه چې هيڅ شی هم ترې حصار نه کړې او که هرشی دې ترينه پاتې کړل بيا به په هغه کې برکت نه وي .

د بيمار صحابي مېرمن رضی الله تعالی عنهما د خپل خاوند د جهاد ټول سامان دې صحابي ته ورکړو او دی ورباندې په جهاد کې د رسول الله ﷺ سره شريک شو .

## حضرت عبد الله بن سلام 8

حضرت انس ❽ فرمايي د رسول الله ☸ مجلس ته حضرت عبد الله بن سلام ❽ راغلو (دا له اسلام وړاندې د يهودو ديني رهبر وو او د تورات لوی عالم وو ټولو يهودو ته دده خبره د قدر وړ وه او په مذهبي او ديني کارونو کې يې د يهودو لارښونه کوله) رسول الله ☸ ته يې وفرمايل : زه لتا څخه درې پوښتنې کوم چې د هغې ځواب د پيغمبر نه بغير بل څوک نشي ورکولی رسول الله ☸ ورته اجازه ورکړه .

حضرت عبد الله بن سلام ❽ ورڅخه و پوښتل .

١. د قيامت لمړی نښه څه ده؟

٢. د اهل جنت لمړی خوراک به څه وي؟

٣. څه وجه ده چې د ماشوم شکل کله پلار ته او د پلار خاندان ته پاتې کيږي او کله مور يا د مور خاندان ته پاتې کيږي؟

پدې لنډ وخت کې چې د انتظار ضرورت هم نه وو پيدا شوی حضرت جبريل ⌛ راغلو رسول الله ☸ ته يې ددې دريو واړو پوښتنو ځوابونه ور وښودل .

رسول الله ☸ حضرت عبد الله بن سلام ته وويل : ماته همدا اوس جبريل ⌛ ستا د دريو واړو پوښتنو ځوابونه ور وښودل .

عبد الله بن سلام ورته وویل جبریل ؟ دا خو په ملائکو کې زمونږ تر ټولو لوی دښمن دی .

ده ځکه دا ویل چې یهودو به ټولو ویل چې په ملائکو کې زمونږ دښمنه فرښته جبریل ده ځکه چې کله هم په یهودو باندې چېرته عذاب راغلی دی د حضرت جبریل ⌛ په لاس وربانديې راغلی دی .

څرنګه چې دا یوه بې فایدې او بې کاره خبره وه نو رسول الله ☸ ځان وربانديې داسې واچولو لکه ده ☸ چې بالکل آوریدلې نه وي او ده ته یې وویل :

ستا د اول سوال ځواب :

د قیامت په نښو کې به اوله نښه هغه لوی اور وي چې په خلکو پسې به را پورته شي او ټول خلک به د لمر لویده طرف ته ټول کړي .

د دوهم سوال ځواب:

کله چې جنتیان اول جنت ته ننوزي نو هلته به ورته د ماهي جیګر کباب کړل شوی وي .

د دریم سوال ځواب:

که د پلار ماده په قوت او طاقت کې د مور په ماده باندې وړاندې شي نو شکل د پلار د کورنی

او پلار لوري ته ځي او که د مور وړاندي شي نو بیا د مور .

حضرت عبد الله بن سلام ❽ چې دا دری ځوابونه واوریدل فوراً یې اعتراف وکولو چې هو ! رښتیا ده ته نبي یې ځکه دا ځوابونه زمونږ په پخوانیو کتابونو کې دری واړه موجود دي او همداسې دي لکه تاسې چې وفرمایل .

بیا حضرت عبد الله بن سلام ❽ اسلام قبول کړو او رسول الله ☸ ته یې وفرمایل :

یا رسول الله ☸ زمونږ دا یهود قوم ډېر ضدي خلک دي که هغوی زما له اسلام څخه خبر شي هغوی به په ما پسې دروغ جوړ کړي او ډېر بې ځایه تهمتونه به په ما ولګوي ښه داده مخکې ددې چې زه خپل اسلام ښکاره اعلان کړم تاسې له دوی څخه زما په اړه پوښتنه وکوې چې دوی په ما اعتماد او اعتبار وکوي نو بیا به زه دوی اسلام ته را وبلم کېدای شي ځیني یې اسلام قبول کړي .

رسول الله ☸ د یهودو څخه پوښتنه وکوله : عبد الله بن سلام په تاسې کې څنګه انسا دی؟

دوی ورته وویل : هغه زمونږ تر ټولو لوی عالم او د لوی عالم زوی دی په مونږ کې لوی انسان دی مونږ د هغه خبرې منو او د هغه په لارښونو

بـانـدې عمل کـوو او پـه هغه بـانـدې زمـونـږ پـوره بـاور دی .

بـيـا رسـول الله ﷺ لـه دوی څخه وپـوښتـل :

ستـاسې څه ګمـان دی کـه چېرتـه عبـد الله بـن سلام مـسلمـان شي؟ دوی وويـل داسې نـشي کېدلـی مـونـږ پـه الله بـانـدې د داسې حـال نـه پـنـاه غـواړو چې هغه اسلام قـبـول کـړي او تـولـو شور او پـه زوره خـبـرې شروع کـړې پـدې وخت کې حضرت عبـد الله بـه سلام چې پـه همدې ځـای کې پـه يـو ځـای کې پټ نـاست وو را ووتـلـو او پـه زوره اواز سره يـې کـلـمـه مـبـارکـه وويـلـه او خـپـل اسلام يـې اعلان کـړو .

پـه همدې مـجلس کې تـولـو وويـل (شرنـا و ابـن شرنـا) هغه پـه مـونـږ کې بـد سړی دی او د بـد سړي زوی دی او ددې خبـرې سره پـه غصه کې تـول د رسـول الله ﷺ لـه مـجلس نـه خـپـاره شول . (صحيح بـخـاري)



# عبد الله بن عمرو ❽

حضرت عبد الله بن عمرو ❽ هغه كس وو چې پلار يې ورته په شريفه كورنۍ كې واده وكولو او د واده نه وروسته چې څه وشول دی ❽ پخپله فرمايي :

زما د واده مراسم ختم شول او نكاح وتړل شوه ناوې زمونږ كور ته راغله لكن زه به د شپې د تلاوت او د ورځې روژې څخه نه خلاصېدم چې خپلې بي بي ته وخت وركړم .

د يو څو ورځو د تېرېدلو وروسته زما مور زما د مېرمن څخه پوښتنه كړې وه : خاوند دې څنگه دی؟ ستا سره يې رويه څنگه ده؟ زما مېرمن ورته ويلي وو چې خاوند خو ډېر ښه سړی دی لكن صرف دا چې د كومې ورځې نه زه دې كورته راغلې يم ده تر اوسه پورې زما په بستره باندې قدم نه دی ايښی او نه زما خوا ته راغلی دی .

زما پلار لاړو رسول الله ☸ ته يې پدې اړه وفرمايل :

رسول الله ☸ زه ور وغوښتم او راڅخه يې زما د ژوند او زما د ورځني عاداتو په اړه و پوښتل او راته يې وويل : عبد الله ستا د روژې څه حال دی؟

ما ورته وويل : يا رسول الله ﷺ زه هره ورځ روژه نيسم .

بيا هغه ﷺ راغخه زما د تلاوت په اړه پوښتنه وکوله : ما ورته وويل د شپې يو ختم کوم .

هغه ﷺ راته وفرمايل : په مياشت کې صرف درې روژې نيسه او په مياشت کې يو ختم کوه .

ما ورته وويل : يا رسول الله ﷺ زه ځوان يم زما په وس کې تردي زيات هم شته .

رسول الله ﷺ راته و فرمايل : بيا صوم داود ( د داود ؏ روژه) نيسه هغه داسې ده چې يوه ورځ يې خوره او يوه ورځ روژه نيسه او قران کريم په اوو شپو کې يو ځل ختم کوه .

حضرت عبد الله بن عمرو ؓ به د همدې هداياتو مطابق ژوند کولو کله چې بوډا شو او بيا يې د داسې عبادت وس نه وو نو په غمگينه لهجه کې به يې ويل :

ما د رسول الله ﷺ اول نصيحت ولې ونه منلو (په مياشت کې درې ورځې روژه او يو ختم) (صحيح بخاري)

# لن تنال البر

د مدينې منورې په هستوګنو کې حضرت ابو طلحه انصاري ❽ له مالدارو کسانو څخه وو دده په ملکيت کې مسجد نبوي ته مخامخ يو لوی باغ وو چې يو ښکلی کوهی پکې وو او خوږې اوبه يې وې څرنګه چې په مدينه منوره کې د خوږو اوبو کمی وو رسول الله ﷺ به کله تشريف وړو او ددې کوهي نه به يې اوبه څښلې څرنګه چې د رسول الله ﷺ ورتګ دې کوهي ته وو نو خلکو ټولو په زړونو کې ددې کوهي مينه ګرځوله او دا يې يو معتبر او قيمتي شی ګڼلو کله چې آيت نازل شول .

سورة آل عمران آية ٩٢

لَن تَنَالُواْ ٱلۡبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُواْ مِمَّا تُحِبُّونَۚ وَمَا تُنفِقُواْ مِن شَيۡءٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٞ ﴿٩٢﴾


ترجمه : تاسې ترهغه وخته پورې پوره خير ته نشئ رسېدلی ترڅو هغه څه په خيرات کې ورنه کړئ کوم چې تاسې ته ډير ګران وي .

حضرت ابو طلحه انصاري ❽ د رسول الله ﷺ په خدمت اقدس کې حاضر شو او عرض يې وکولو ويل يې : يا

رسول الله ﷺ ماته زما په مال کې تر هرڅه نه معزز شی دا باغ او دا کوهی دی زه یې تاته هدیه کوم چېرته چې ستا خوښه وي هلته یې صدقه کړه زه ددې په بدل کې په آخرت کې ثواب غواړم .

رسول الله ﷺ دده په دې هدیه باندې زیات خوشحال شو او فرمایل یې : ډېر ښه فایده من تجارت دی .

بیا یې حضرت ابي طلحة ؓ ته وویل : زه ستا په مطلب او ستا په اراده باندې پوه شوم لکن ستا په خپلوانو کې یو څه غریب خلک دي دا خپل باغ دې په هغوی باندې وویشه بیا حضرت ابو طلحه ؓ راغلو او خپل باغ یې د الله ① د رضا لپاره په غریبانو خپلوانو تقسیم کړو .



# نازولی ځوان

حضرت مصعب بن عمير ❽ د لوړې مرتبې لرونکی صحابي وو له اسلام وړاندې دی ډېر زيات نازولی وو د پلار يوازې يو زوی وو او پلار يې چې څومره مال درلود هغه ټول يې دده څخه قربان کولو او په يوه ورځ کې به يې دوه جوړه جامې ور بدلولې او دی يې هېڅ غم او فکر ته نه ورکولو لکن کله چې دده اسلام په داسې وخت کې قبول کړو چې پلار يې په اسلام نه وو مشرف شوی نو د پلار له طرفه هغه ټول نازونه په ده باندې ودرېدل پلار يې ورته غصه شو چې تا اسلام ولې قبول کړو او دومره ورته غصه شو چې دده په ځان کې جامې يې هم دده څخه وويستې او په لوڅ حالت کې يې له کور نه وشړلو بهر چا وليدو څادر يې ورکړو چې ځان پکې پټ کړي هغه څادر يې له ځانه تاو کړو يوه ورځ چې کله د رسول الله ﷺ مجلس ته پداسې حالت کې حاضر شو چې زوړ څادر يې په ځان را تاو کړی وو چې پيوندونه پکې لګېدلي وو رسول الله ﷺ ورته وکتل چې دده ❽ پخوانی وخت ور په ياد شو او اوس يې دده ❽ دا موجوده حالت ته کتل نو د رسول الله ﷺ له سترګو مبارکو څخه اوښکې ورته راغلې او په کتلو يې ډېر زيات خفه شو بيا رسول الله ﷺ و فرمايل : يو وخت به داسې هم راشي چې تاسې به سحر يو جوړ جامې او

ماښام بل جوړ آغوندئ (فراخي به درباندې راشي) ستاسې په وړاندې به يو د نعمتونو ډک دسترخوان کېښودل کيږي او بل به پورته کيږي تاسې به خپل کورونه داسې په پردو سره ښکلي کړئ لکه څرنګه چې کعبه شريفه په پردو باندې ښکلې کړل شوېده .

صحابه وو پوښتنه وکوله : يا رسول الله ﷺ زمونږ هغه ژوند به ددې ژوند نه غوره وي؟

رسول الله ﷺ ورته ووېل : نه ... ستاسې اوسنی ژوند تر هغه ژوند څخه غوره دی .



# د الله لوی نعمت

حضرت ابو هريره ❽ فرمايي يوځل رسول الله ☸ له خپل کور څخه را ووتلو چې ويې کتل حضرت ابو بکر صديق ❽ او حضرت عمر ❽ هم بهر وو رسول الله ☸ چې دوی وليدل پوښتنه يې تري وکوله : تاسې پدې وخت کې بهر څه کوئ؟ دوی ورته وويل له ډېر وخت نه مو څه نه دي خوړلي او لوږې خوب ته پرې نه شودو ځکه بهر ته را ووتلو .

رسول الله ☸ ورته وويل زه هم همدې لامل بهر ته را وېستلی يم راځئ چې د چا کور ته ورشو .

په يو طرف کې د يو صحابي حضرت ابو الهيثم ❽ کور وو هلته ورغلل هغه په کور کې نه وو دهغه مېرمن چې وليدل د دنيا تر ټولو نه محترم کسان د دوی په دروازه کې ولاړ دي د خوشحالی نه يې ورته وويل اهلاً و سهلاً و مرحباً .

رسول الله ☸ ورته وويل : خاوند دې چېرته دی؟

دې رضی الله تعالی عنها ورته وويل : باغ ته تللی دی لږ ساعت کې به راشي چې لږ وخت نه وو تېر شوی هغه صحابي ❽ را ورسېدلو چې ويې کتل د دنيا محترم ترين خلک يې مېلمانه دي ډېر زيات

خوشحال شو او زیاته خوشحالي یې ښکاره کړه بیا یې وویل : نن په دنیا کې داسې څوک نشته چې زما نه یې غوره کسان مېلمانه وي .

د کور په صحن کې یې دوی ته د کېناستلو ځای تیار کړو او د تازه خورماوو یو وږی یې د دوی په وړاندې کېښودو او دوی ته یې وویل : وخورئ جناب زه درته په لږ ساعت کې غوښه تیاورم چاړه یې واخیسته او د مال په طرف روان شو رسول الله ﷺ ورپسې اواز وکولو :

ابو الهیثم ګوره شودي ورکونکی حیوان حلال نه کړې .

لږ وخت نه وو تېر شوی چې د تازه نرۍ غوښې کباب یې ورته په دسترخوان باندې کېښودو رسول الله ﷺ او دواړو ملګرو تړینه خوراک وکولو او هغه اوبه چې همدا اوس یې تازه له باغ نه راوړې وې هغه یې پسې و څښلې بیا رسول الله ﷺ خپلو دواړو ملګرو ته وویل ددې لوی نعمت په اړه به هم په آخرت کې پوښتنه کیږي چې تاسې د هغه نعمت څه شکریه اداء کړه چې په تشه ګېډه الله ① له کور نه را وویستلی او د داسې نعمتونو خوراک یې درته نصیب کړو .

## احتیاط

حضرت وهب بن منبه او حضرت طاوس رحمهما الله به د حجاج بن یوسف د وږور په مجلس کې حاضر پدل هغه ته به یې نصیحت کولو او د حجاج بن یوسف وږور عبد الله بن یوسف هم په ظلم کې د حجاج نه کم نه وو ...

یوه ورځ په سخت یخ کې دواړه حضرات د حجاج بن یوسف د وږور په مجلس کې شریکان وو حضرت طاوس هغه ته په نصیحت باندې بوخت وو نو د حجاج بن یوسف وږور امر وکولو چې د مولانا صاحب په اوږو باندې قیمتي څادر ور واچوئ .

مولانا صاحب چې د مشرانو هېڅ ډول تحفې نه قبلولې د خبرو په دوران کې یې خپلې اوږې وښورولې او هغه څادر ترینه بېرته ولوېد والي چې پدې باندې له مخکې نه خبر وو چې دی د مشرانو تحفې نه اخلي نو پدې کار ورته ډېر زیات غصه شو لکن مولانا صاحب دهغه د غصې هېڅ پروا ونه کوله خپلې خبرې یې ورته وکولې او پاڅېدل له دربار څخه ووتل .

په لاره کې حضرت وهب بن منبه رحمه الله ورته وویل : هسې دې هغه والي غصه کړو هغه څادر به تا اخیستی وو چې بیا ستا زړه نه غوښتل هغه استعمال کړې نو یو غریب ته به دې ورکړی وو نو هلته خو به دې نه پرېښودو.

ده رحمه الله ورته وویل : دلته به ډېرو خلکو زه لیدلی وم چې د والي تحفه مې قبلوله بیا به نورو خلکو هم فکر کړی وو چې د والي او د مشرانو څخه تحفه اخستل ښه کار دی نو خلکو به هم بیا تحفې زما د اقتداء له امله اخیستلې او هغوی ته به دا خبره نه وه معلومه چې هغه دده تحفه خو ما استعمال نه کړه او غریب ته مې ورکړه .



# مطمئن زړه

د حجاج بن یوسف په ظلم کې یو خاص نوم دی د اسلامي دولت له لوري نه په عراق باندې والي وو لکن ډېر زیات ظالم انسان وو دده سره د حضرت سعید بن جبیر رحمه الله د ملاقات قصه ددې سلسلې په شپږم کتاب کې هم تېره شوه او دهغه څه نورو برخو ته ستاسي فام را ګرځوم .

څرنګه چې ابن الاشعث د حجاج بن یوسف په خلاف تحریک شروع کړو او ډېرو نېکانو خلکو یې مرسته وکوله لکن هغوی اکثر ونیول شول او یا شهیدان کړل شول او هغه تحریک ناکام شو پدې تحریک کې حضرت سعید بن جبیر رحمه الله هم دده ملګرتیا کړې وه کله چې د دوی تحریک ناکام شو حضرت سعید بن جبیر رحمه الله مکې مکرمې ته لاړو پدې وخت کې د حجاز والي حضرت عمر بن عبد العزیز رحمه الله وو دلته د امن نه ډک ژوند وو او دده په څېر نور هم ډېر خلک وو چې د عراق نه د حجاج بن یوسف له ظلم نه را مهاجر شوي وو .

د حجاج بن یوسف په کوښښونو سره د مکې مکرمې د ساحې نه عمر بن عبد العزیز لرې کړل شو او بل والي ورته راغلو هغه چې څنګه راغلو نو د عراق مهاجرین به یې یو یو نیولو او حجاج ته به یې حواله کولو تردې چې د حضرت سعید بن جبیر رحمه الله نمبر هم راغلو والي اعلان وکولو

چې هرچا سعيد بن جبير ته پناه ورکړه هغه به هم قتل کيږي بلکه همسايه ګان به يې هم قتل کيږي لنده دا چې حضرت سعيد بن جبير رحمه الله يې ونيولو او حجاج بن يوسف ته يې وړاندې کړو او د دوی په مينځ کې لاندې خبرې په داسې وخت کې وشوې چې حضرت سعيد بن جبير ډېر په اطمنان سره خبرې کولې او بالکل داسې نه ښکاره کېدو چې دی ډارېږي .

حجاج: نوم د څه دی؟

سعيد رحمه الله : زما نوم سعيد دی .

حجاج: د چا زوی يې؟

سعيد رحمه الله : د جبير زوی يم .

نکته : د سعيد معنی ده نېک بخت او د جبير معنی ده اصلاح کړل شوی .

حجاج: ته شقي بن کسير يې

سعيد رحمه الله : زما مور ماته په سعيد سره اواز کولو او هغه ته زما نوم ستا نه ښه ياد وو .

حجاج: ته هم بد بخت يې او مور د هم بد بخته ده .

سعيد رحمه الله : په غيبو باندې پوهېدونکی لتانه علاوه يو بل ذات دی ( الله ①)

حجاج: ته ګوره اوس زه تا وژنم .

سعید رحمه الله : بیا خو مې مور په ما باندې صحیح نوم ایښی دی .

حجاج: اوس زه تا د ژوند په ځای دوزخ ته لېږم .

سعید رحمه الله : که زه پوه وی چې دا کار ستا په اختیار کې دی نو ستا عبادت مې شروع کولو .

حجاج: د رسول الله ﷺ په اړه ستا څه ګمان دی ؟

سعید رحمه الله : د الله رحمت وو او د رحمت سره ټول عالم ته را لېږل شوی وو .

حجاج: د خلفاوو په اړه ستا څه خیال دی؟

سعید رحمه الله : زه د هغوی ساتونکی نه یم هرڅوک د خپل ځان ذمه وار دي .

حجاج: زما مطلب دادی چې هغوی ښه دي که بد؟

سعید رحمه الله : د کوم شي په اړه چې ماته معلومات نه وي زه به څه ووایم زه د خپل ځان په اړه هم نه پوهېږم .

حجاج: په هغوی تولو کې ستا څوک ډیر خوښ دي ؟

سعید رحمه الله : د چا نه چې الله ① ډیر راضي وي .

حجاج: په تولو کې د الله ډیر راضي کونکی څوک وو په خلفاوو کې؟

سعید رحمه الله : پدې خبر هغه څوک پوهېږي چې د زړه له رازونو څخه خبر ذات دی ( الله ① )

حجاج: حضرت علي ❽ په جنت کې دی که په دوزخ کې ؟

سعید رحمه الله : که زه جنت او دوزخ ته لاړشم هلته یې وګورم بیا درته ویلی شم .

حجاج: په قیامت کې به زه څنګه انسان وم؟

سعید رحمه الله :زما مرتبه ددېنه ښکته ده چې د غیبو په اړه خبرې وکوم او یا تري خبر شم .

حجاج: ته زما په وړاندې رښتیا ویل نه غواړې؟

سعید رحمه الله : ما دروواغ هم نه دي ویلي .

حجاج: ته خاندې ولې نه ؟

سعيد رحمه الله : د خندا وړ خبره مې نه ده لیدلې هغه څوک به څه وخاندي چې د خاورو نه جوړ وي قیامت ته به ورځي او په دنیا کې په فتنو کې اوسیږي .

حجاج: زه خو خاندم .

سعيد رحمه الله : الله ① همداسې په مختلفو ډولونو مونږ جوړ کړي یو .

حجاج: زه اوس تا وژنم .

سعيد رحمه الله : زما مرګ ته سبب پیدا کونکي خپل کار وکولو .

حجاج: د الله ① په وړاندې زه لتا څخه غوره یم .

سعيد رحمه الله : په الله ① باندې څوک هم داسې جرئت نشي کولی چې دهغه په وړاندې څوک خپله مرتبه معلومه کړي او بیا غیب هم الله ① لره دي بل څوک وربانډې نه پوهیږي .

حجاج: زه دا جرئت ولې نشم کولی زه د بادشاه او خلیفه په لوري کې د

تولو خلکو سره یم او ته د باغیانو ملګری یې.

سعید رحمه الله: زه له جماعت نه جدا نه یم فتنه مې نه ده خوښه او هغه څه چې په تقدیر کې لیکلي وي رسیږي.

حجاج: مونږ چې څه د امیر المومنین لپاره را ټولوو دهغې په اړه ستا څه خیال دی؟

سعید رحمه الله: ماته نه ده معلومه چې تاسي د امیر المومنین لپاره څه ټولوئ.

حجاج سپین زر جامي او نور شیان را حاضر کړل او د سعید رحمه الله په وړاندې یې کېښودل او ورته یې وویل دا شیان.

سعید رحمه الله: دا ښه شیان دي که د خپل شرط مطابق وي.

حجاج: شرط یې څه دی؟

سعید رحمه الله: شرط دا دی چې ته داسي شیان واخلې چې د قیامت په ورځ ته دهغه شیانو په اړه په امن کې وې.

حجاج: مونږ چې كوم شيان را ټول كړي دا ښه شيان نه دي؟

سعيد رحمه الله : تا را ټول كړي او تاته به ښه معلومه وي چې ښه او كه بد شى دى .

حجاج: لدې شيانو څخه تاسې ځان ته څه غوره كوئ؟

سعيد رحمه الله : زه صرف هغه شى غوره كوم چې الله يې خوښوي .

حجاج: تا لره هلاكت دى .

سعيد رحمه الله : هلاكت هغه كس لره دى چې له جنت نه لرې شي او اور ته يې رجوع شي .

حجاج: په څه ډول مرګ دې خوښ دى څه ډول دې قتل كړم ؟

سعيد رحمه الله : څرنګه قتل چې تاته خپله خوښ وي .

حجاج: زه تا معاف كړم؟

سعيد رحمه الله : معافي خو د الله [1] په وړاندې ده ستا به څه معافي وي .

حجاج جلاد ته وويل چې دا قتل کړه هغه يې بهر ته را وويستلو ده خندل حجاج ته چا وويل : سعيد بن جبير خو خاندي بېرته يې امر وکولو را ويې ګرځوئ .

حجاج: ولې د وخندل ؟

سعيد رحمه الله : ومې خندل د الله ⓵ په وړاندي ستا جرئت او ستا په مقابل کې د الله ⓵ حلم ته .

حجاج: زه داسې يو انسان قتل کوم چې هغه د مسلمانانو په مينځ کې بې اتفاقي جوړه کړې وه .

بيا يې جلاد ته حکم وکولو چې همدلته زما په مخ کې يې قتل کړه .

حضرت سعيد بن جبير رحمه الله وويل که ماته د دوو رکعتو مانځه اجازه وي نو زه به يې وکوم .

مخ يې قبلې ته کړو او په عاجزي سره يې د مانځه نيت کولو چې حجاج خلکو ته وويل دده مخ د قبلې څخه واړوئ د عيسايانو قبلې ته يې مخ کړئ ده خو د مسلمانانو په مينځ کې اختلاف پيدا کړی دی بيا ولې د مسلمانانو قبلې ته مخ کوي .

سعيد رحمه الله : تاسې چې کوم طرف ته مخ کوئ الله ⓵ هماغه لوري ته موجود دی .

حجاج امر وکولو چې سر يې ښکته کړئ چې مخ يې صرف زمکې ته وي او يو طرف ته هم نه وي .

سعيد رحمه الله : فرمايي ① الله له همدې زمکې نه ما تاسې پيدا کړي ياست او همدې زمکې ته مو يو ځل بيا ور ګرځوم او له همدې زمکې نه به مو بيا را پورته کوم .

حجاج امر وکولو قتل يې کړئ .

سعيد رحمه الله : زه تا صرف په يوه خبره ګواه کوم چې د قيامت په ورځ سره مخامخ شوو بيا يې درنه غواړم .

اشهد ان لا اله الا الله وحده لا شريک له و اشهد ان محمد عبده ورسوله .

جلاد يې سر ووهلو او شهيد يې کړو د بدن څخه يې ډيره زياته وينه وبهېدله چې حجاج داسې قتلونه ډير کړي وو لکن داسې وينه يې چېرته نه وه لېدلې نو يې د خپل طبيب نه د وينې د ډير زياتوالي پوښتنه وکوله .

طبيب ورته وويل : دا سړی ډير زيات مطمئن وو او له مرګ څخه نه ډاريدو وينه يې په خپل اصلي مقدار کې ده او د يو داسې بدن لرونکي انسان څخه بايد همدومره وينه ووزي لکن تاسې چې نور خلک ليدلي دي هغوی به د مرګ نه ډاريدل او تر

توري مخکې به ډېره وینه په هغوی کې وچه شوې وه .

## د مانځه سره مینه

د حضرت عبد الله بن عمر ❽ په سترګه کې څه ډول بیماري او تکلیف وو د سترګود بېماریانو ماهر ورته راغلو ورته ویل یې مونږ به ستاسې د سترګې کار وکوو لکن بیا به پنځه ورځې ستاسې نه لږ توجه غواړي چې په زمکه به سجده نه اېږدئ او چې مونځ کوئ نو مخ ته به کوم شی را پورته کوئ او په هغه باندې به سجده لګوئ .

ده ❽ ورته و فرمایل : پنځه ورځې خو ډېرې زیاتې دي زه یو رکعت هم داسې نه کول غواړم چې سجده الله ☸ ته په زمکه باندې ونه لګوم .

# لــه پــردي حق نــه ځــان ســاتــل

حضرت عمر 8 تــه يــو ځل د بــحريــن نــه قــيمــتي مشک راغلل پــه مجلس کې يــې وويــل داسې څوک شتــه چې دا وزن کړي او پــه مسلمــانــانــو يــې تــقسيم کړو ؟ دده 8 مېرمن حضرت عاتــکــه رضى الله تــعــالــى عنــهــا وفــرمــايــل : زه بــه يــې وزن کړم اى اميــر الــمــومــنيــن 8 .

اميــر الــمــومــنيــن 8 چپ شو او څه يــې ونــه ويــل .

لــږ ساعت وروستــه يــې بــيــا وويــل : داسې څوک شتــه چې دا مشک وزن کړي مونږ يــې پــه مسلمــانــانــو بــانــدي وېشل غواړو ؟

بــيــا چا غږ ونــه کــولــو لــکن بــي بــيــا هماغه خپلــه خبــر تــکرار کړه پــدي وخت کې اميــر الــمــومــنيــن 8 بــيــا هم چپ شو تــردې چې پــه دريــم ځل ده 8 بــيــا اواز وکــولــو او بــي بــي ورتــه بــيــا خپل ځواب تــکرار کړو بــيــا ورتــه اميــر الــمــومــنيــن 8 وويــل :

زه دا نــه غواړم چې د وزن کــولــو پــه وخت کې ستــا پــه لاسونــو پــورې دا شه بــوى ولــګيــږي او هغه تــه پــه خپلــو جامــو بــانــدې پــاک کړې او دا بــوى زمــونږ کــور تــه لــه نــورو خلــکو نــه زيــات راشي .

## سخت استقامت

رسول الله ﷺ په سفر کې وو چې په یو ځای کې یې شپه شوه اواز یې وکولو نن به زمونږ څوکیداري دلته څوک وکوي؟ دوه صحابه رضي الله عنهما ورته را پاڅېدل یو مهاجر وو او بل انصاري وو حضرت عمار بن یاسر او حضرت عباس بن بشیر رضی الله تعالی عنهما د نن شپې د څوکیداري ذمه وار شول دوی ته وویل شول چې ددې غره له لوري نه د د ښمن د راتلو خطر دی دوی چې د پهرې (څوکیداري) ځای ته ورسېدل دواړو خبرې وکولې چې که ټوله شپه دواړه ویښ پاتې شو هسې نه چې دا مشکله شي او د شپې په مینځ کې د دواړو سترګې پټې شي او دواړه ویده شو نو داسې به وکوو چې نیمه شپه به ته پهره وکوي زه به ویده شم او نیمه شپه به بیا زه پهره وکوم او ته به ویده شې که ویښ ملګري د څه خطر احساس وکولو نو ویده به را ویښ کړي .

مهاجر ملګری ویده شو او انصاري ملګری په مانځه و درېدو یو څو کسه کفار راغلل ویې کتل یو تور شی ولاړ دی نو یې د غیش وار ورباندې وکړو هغه دده ﷺ په بدن مبارک باندې ولګېدو بیا یې ورباندې بل وار وکولو هغه هم دده ﷺ په بدن ولګېدو ده به په لاس باندې بېرته وویستلو او خپل مانځه ته به یې ادامه ورکړه

تـردي چې دريم غيشى هم وربـانـدي ولـګېدو بـيـا يـې رکـوع او سجده وکـول او مـونـځ يـې ختم کـړو نـو بـيـا يـې مـهـاجـر مـلـګرى را ويـښ کـړو نـو چې کـلـه پـه تـيـاره کې هغه هم را پـاڅېدو کـفـارو فـکر وکـاوه چې کېداى شي دلـتـه زيـات کـسان وي ښه بـه دا وي چې و تـښـتـو هـسې نـه ګـيـر مـو کـړي نـو هـغـوى و تـښـتېدل مـهـاجـر مـلـګري چې انـصاري رضى الله تـعـالـى عنـهـمـا تـه وکـتـل ويـې لـيـدل چې لـه دريـو ځـايـونـو څخه ويـنـه تـرې بـهـيـېږي نـو يـې ورتـه وويـل پـه اول وخت کـې دې زه ولـې را ويـښ نـه کـړم؟

ده ❽ ورتـه وويـل سورت کـهف مـې پـه مـانـځه کې شروع کـړى وو کـلـه چې پـه غيشي ولـګېدم نـو مـې ونـه غوښـتـل چې د سورت د تـکمـيـل نـه وړانـدي رکـوع وکـوم نـو مـې خـپـل تـلاوت تـه دوام ورکـړو همدارنـګه چې دوهم را بـانـدي ولـګېدو لـکن چې کـلـه دريم را بـانـدي ولـګېدو نـو زه وډار شـوم هـسې نـه چې زه و وژل شم او تـه بـه ويـده پـاتـې شې او نـور مـلـګري او رسول الله ﷺ بـه پـه خطر کې شي نـو ځکـه مـې رکـوع وکـولـه کـه ددې خـبـرې احساس لـمـا سره نـه واى چې زه وژل شوى هم واى سورت مې پـه نـيـمـه کې نـه پـرېـښودو .

# رښتونی پرهېز

د حضرت ابو بکر صديق 8 يو غلام وو هغه به تلو مزدوري به يې کوله او چې د خوراک کوم شی به يې پيدا کړل نو هغه به يې ابو بکر صديق 8 ته ورکول هغه به خوړل يوه ورځ يې چې څه خوراک ورته راوړو نو حضرت ابو بکر صديق 8 يې په خوراک باندې شروع وکوله غلام ترېنه پوښتنه وکوله :

هروخت به چې ما درته خوراک راوړو نو تا به پوښتنه کوله چې له کومه ځايه دې راوړو او له کومه دې کړو نن دې پوښتنه ونه کوله ؟

حضرت ابو بکر صديق 8 ورته وويل : هو ! وجه دا وه چې زه ډېر سخت وږی وم او دا پوښتنه راڅخه بالکل هېره شوه ښه ده راته ووايه دا خوراک دې له کومه کړو ؟

غلام ورته وويل د جاهلت په زمانه کې ما په چا باندې منتر ويلي وو په منترونو مې څوک دم کړي وو بيا هغوی لما سره وعده کړې وه چې تا ته به کوم شی درکوو نن زه په هغه لاره تېرېدم چې هلته واده وو زه ور وګرځېدم هلته هغه خلک

موجود وو نو ماته يې د هغې ورځې د وعدې خوراک نن راکړو .

حضرت ابو بکر صديق ؓ ورته وويل زه خو تا هلاک کړم .

پدې وخت کې يې يوه لقمه (لمړی) خوراک کړی وو په حلق کې يې ګوتې واچولې بېرته يې قی کول غوښتل لکن هغه لقمه تر ستونې تېره شوې وه او د ډېر کوښښ سره بيا هم را ونه وتله .

چا ورته وويل تاسې اوبه وڅښئ د هغه لقمې د را ګرځېدلو بيا ا مکان شته نو يې ډېرې ا وبه وڅښلې او په خوله کې يې ګوتې واچولې تردې چې هغه لقمه يې بېرته قی کړه .

چا ورته وويل : جناب تاسې د يوې لقمې لپاره دومره زيات تکليف وکولو؟

ده ورته وويل :

که زما د روح سره هم دا لقمه را وتلی نو ما راويستل غوښتل ما له رسول الله ﷺ څخه آوريدلي دي هغه فرمايل کوم بدن چې په حرام خوراک سره وده وکوي هغه د اور لپاره غوره دی زه ډاريدم هسې نه دا يوه لقمه زما په بدن کې د ودې سبب جوړ شي .

# قرض الله ① خلاص کړو

د حضرت بلال ❽ څخه پوښتنه وشوه چې رسول الله ﷺ به خپل مصارف څنګه پوره کول؟

ده ❽ وفرمایل :

د رسول الله ﷺ سره به هیڅ هم نه وو د هغه ﷺ دا خدمت زما په غاړه وو کله به چې کوم وږی مسلمان راغلو سوال به یې وکولو نو رسول الله ﷺ به ماته حکم وکولو : ورشه دده لپاره له چا نه په قرض کوم شی واخله ده ته وربانديې خوراک واخله کله به چې کوم مسلمان راغلو چې جامې ته به یې ضرورت وو نو رسول الله ﷺ به ماته وویل ورشه له چا څخه قرض واخله او ده ته وربانديې جامه واخله ما به همداسې کول .

یو ځل یو مشرک راغلو ماته یې وویل زما لاس شه چلیږي زما سره پیسې شته ته له بل چا څخه قرض مه اخله که چیرته ضرورت وي نو لما څخه قرض اخله ما ویل نو دا بیا شه خبره ده چې یو څوک پخپله ماته راشي چې لما څخه قرض اخله ... ما هم له هماغه کس نه قرض اخیستل شروع کړل کله به چې رسول الله ﷺ ماته وویل ورشه له چا نه قرض راواخله زه به همدغه کس ته ورغلم .

يو ځل ما ا ودس كړى وو اذان ته مې ځان تيارولو چې هغه مشرك د ځو كسانو سره راغلو ماته يې ويل : اى حبشيه ! ما ورته وكتل نو يې سم د لاسه بدې شكنځلې راته وكولې او څه چې په خوله ورتلل راته يې وويل او راته يې وويل د مياشتې په پوره كېدو كې څو ورځې پاتې دي؟ دا مياشت چې پوره شي او ته زما قرض را اداء نه كړې زه به تا بېرته غلام كړم داسې مېږې ګډې به څروې لكه مخكې دې چې كول دايې راته وويل رانه لاړو .

توله ورځ په ما ډېره بده تېره شوه او همدا فكرونه مې كول چې اوس لدې سره څه وكوم؟ ورځ مې په خفګان كې تېره كړه د ماسختن د مانځه نه وروسته نا وخته رسول الله ﷺ ته ورغلم او قصه مې ورته تېره كړه او ورته مې وويل : اى رسول الله ﷺ اوس خو نه ستاسره دومره څه شته چې دده قرض وربانديې خلاص شي او نه مونږ په منډه دومره لوى انتظام كولى شو او دا كس چې په ما پسې راشي دا خو به ما ذليل كوي ددې امله كه ستاسې اجازه وي زه به چېرته خپل ځان پټ كړم او ترڅو پورې چې د قرض د اداء كولو انتظام كيږي نو زه به ځان نه ښكاره كوم كله چې ستاسې لاس ته دومره څه راغلل چې قرض وربانديې خلاصيدو بيا به زه هم خپل ځان را ښكاره كړم په همدې مو مشوره راغله زه راغلم د سفر سامان يوه توره

، یو ډال یو جوړ بوټ یا څپلی مې تیار کړل او همدا زما د سفر سامان وو د سحر انتظار مې کولو چې سبا شي نو په تیاره کې به کومې خوا ته لاړ شم .

لا سبا شوی نه وو وختي وو چې یو کس په منډه منډه زما ځای ته راغلو او راته ویل یې د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شه زه چې د رسول الله ﷺ خدمت ته ورغلم ومې لیدل چې څلور اوښان هلته موجود دي او څه سامان هم وربانديي بار دی رسول الله ﷺ راته و فرمایل :

د خوشحالی خبره درته وکوم الله ﷺ ستا د قرض د خلاصولو انتظام پخپله وکولو دا اوښان هم تاته حواله کوم او دهغه ټول سامان هم دا د فدک مشر ماته په هدیه کې را لیږلي دي .

زه زیات ورته خوشحال شوم په خوشحالی کې مې هغه له ځان سره کړل په ما باندې موجوده قرض مې وربانديي خلاص کړو بېرته راغلم رسول الله ﷺ تردې دمه لا په جوماتکې انتظار کاوه ورته مې وویل : یا رسول الله ﷺ د الله ① ډیره شکریه چې هغه قرض خلاص شو او اوس په مونږ د هیچا قرض هم نه دی پاتې رسول الله ﷺ را څخه وپوښتل : په مال کې کوم شی پاتې دي؟ ما ورته وویل هو پاتې دي ... بیا رسول الله ﷺ ماته وویل دا هرشی

اوس تقسیم کړه چې زه په راحت کې شم .. ورځ تېره شوه ناوخته ماسختن یې راڅخه پوښتنه وکوله چې هغه مال تقسیم شو؟ ما ورته وویل : نه .. جناب لږ لا اوس هم ددې امله پاتې دی چې څوک ضرورت لرونکی راغلی نه دی نو رسول الله ﷺ خپل کور ته تشریف یو نه وړو او په جومات کې ویده شو بله ورځ هم تېره شوه د ماسختن د مانځه نه وروسته یې را څخه پوښتنه وکوله چې هغه پاتې شوی مال تقسیم شو ؟ ما ورته وویل :

هو ! رسول الله ﷺ الله ① تاسې ته ارام درکړو هغه ټول مال وویشل شو رسول الله ﷺ وفرمایل زه ډاریدم هسې نه چې پداسې وخت کې مرګ راشي چې زمونږ سره مال پاتې وي ددېنه وروسته رسول الله ﷺ کور ته تشریف یوړو .

## د حضرت عمر ﷺ تنخوا

حضرت عمر ⑧ به تجارت کولو کله چې خلیفه شو نو په مدینه منوره کې یې خلک را ټول کړل ورته ویل یې :

تاسې ته معلومه ده چې ما تجارت کولو اوس زه تاسې له تجارت نه وویستم (د خلافت کارونه مو را په غاړه کړل) اوس به زما د ژوند څه طریقه وي؟

خلکو مختلفې رايې وړاندې کړې اود حضرت عمر 8 لپاره يې د تنخوا لپاره فکر کاوه په مجلس کې حضرت علي 8 هم تشريف درلود حضرت عمر 8 له هغه څخه هم پوښتنه وکوله : پدې اړه ستاسې څه رايه ده؟ هغه 8 وفرمايل : په درميانه اندازه دې له بيت المال څخه ستاسې لپاره تنخوا مقرره کړل شي چې ستاسې د کور ګذاره ورباندې وشي .

همدا رايه خوښه شوه خو کومه تنخوا چې ورته مقرر کړل شوه هغه کمه وه نو څه صحابه وو مشوره وکوله چې لږ يې ورته زياته کړي چې ژوند يې يو څه آرام شي (ددې سلسلې په شپږم کتاب کې هم دا خبره تېره شوې وه) نو دوى دا خبره د رسول الله ☸ مېرمن حضرت حفصې رضى الله تعالى عنها ته وکوله او هغه دده مبارک 8 لور وه نو هغې چې کله خپل والد محترم ته دا مشوره ور وړاندې کړه هغه ورته غصه شو او بيا يې دې مبارکې ته وويل :

ته راته ووايه رسول الله ☸ په خپل ژوند کې ستاسې په کور کې چې کومه جامه درلوده غوره جامه يې کومه وه؟

دې رضى الله تعالى عنها ورته وويل هغه دوه جامې وې چې رسول الله ☸ به دجمعې په ورځ يا د کوم وفد سره د خبرو په وخت آغوستلې .

بيا يې ورڅخه و پوښتل : د رسول الله ﷺ په خوراکونو کې غوره خوراک څه وو؟

دې رضى الله تعالى عنها ورته وويل زمونږ په كور كې غوره ډوډى د غنمو ډوډى وه يوځل مو غوړ ورسره ګډ کړي وو هغه مو خوړل او رسول الله ﷺ هم هغه ډېر په مزه خوړلي وو همدا ډوډى وه چې مونږ به هم خوړه او خلكو ته به مو هم وركوله .

بيا يې ورڅخه و پوښتل : د رسول الله ﷺ په بسترو كې تر ټولو غوره بستره كومه وه ؟

دې رضى الله تعالى عنها ورته وويل : يوه ډبله شان ټوټه وه په ګرمى كې به وربانديې لپاسه څملاستو او په يخنى كې به يې نيمه تر ځان لاندې كړه او نيمه به يې پر ځان لپاسه كړه پكې ويده به شو . (سبحان الله)

بيا حضرت عمر ؓ ورته وويل : حفصه بيا چا چې تاته مشوره دركړې چې د امير المومنين تنخوا بايد لږ زياته شي هغوى ته د رسول الله ﷺ د ژوند دا طريقه ور ورسوه بيا يې ورته د رسول الله ﷺ او د حضرت ابو بكر صديق ؓ زندګي وريادده كړه چې هغوى څه ډول ژوند كولو او ورته يې وويل زما د حضرت ابو بكر صديق ؓ او رسول الله

☸ مثال داسې دی لکه دری کسان چې په یوه لاره باندې روان وي اول کس په سمه لاره لاړو او هدف ته ورسېدو دویم هم دهغه په قدمونو باندې پښې کېښودلې او په هغه پسې په سمه لار لاړو اوس د دریم کس وار دی چې هغه که د دوی په قدمونو باندې پښې کېږدي نو په دوی پسې به ور ورسیږي او که له لارې نه کوږ شو کله به هم د هغوی سره ونه ویني .



# استقامت

د حضرت عمر فاروق ⑧ د خلافت په وخت کې د شام د فتوحاتو په وخت کې عیسایانو په څه چل سره حضرت عبد الله بن حذافه ⑧ د ګڼ شمېر صحابه وو سره اسیر کړو .

کله چې دا خبر مسلمانانو ته را ورسېدو ټول وربانديې زیات خفه شول او امیر المومنین حضرت عمر فاروق ⑧ د دوی مشر هِرقل ته یو لیک ولیږلو چې پکې یې لیکلي وو:

دا لیک د الله ① د بنده له لوري نه دی چې امیر المومنین لقب یې دی او دا لیک د روم د بادشاه لپاره دی .

ای هِرقل څنګه چې دا لیک تاته ورسیږي په هماغه ساعت به حضرت عبد الله بن حذافه ⑧ له ټولو ملګرو سره پرېږدې دا به ستاسې لپاره غوره وي او کنه نو داسې فوځ به درپسې در ولېږم چې هغوی د الله ① داسې تابع بندګان وي چې هغوی که په کور کې وي او که په سودا او بازار کې وي یوه لحظه هم د الله ① له ذکر نه غفلت نه کوي .

کله چې دا لیک هِرقل ته ورسېدو دا مسلمانان اسیران یې خپل دربار ته ور وغوښتل او له عبدالله ❽ څخه یې وپوښتل :

هِرقل : ستا له پیغمبر سره یا له حضرت عمر سره څه تعلق دی؟

عبد الله ❽: هغه ☸ زمونږ رسول او دا ❽ زمونږ امیر دی .

هِرقل : که ته عیسائیت قبول کړې د کوم لوی خاندان جینۍ به مونږ تاته واده کړو او لویه وظیفه به هم درکړو .

عبد الله ❽: زه د رسول الله ☸ دین په هېڅ صورت نشم پرېښودلی .

هِرقل : یو قیمتي آمېل یې ورته وړاندې کړو او ورته یې وویل دا آمېل هم ستا شو او زیات غلامان به هم درکړم راته ووایه څه اراده دې ده؟

عبد الله ❽: ای هِرقل که ته ماته خپله ټوله بادشاهي هم راکړې نو د اسلام په بدل کې یې زه نه قبلوم .

هِرقل : سمه ده نو بیا د مرګ لپاره تیارشه .

عبد الله 8: ای هِرقل ته زما بدن ټوټې ټوټې کړه بیا هم زه د اسلام پرېښودلو ته نه یم تیار .

هِرقل : ښه ده ته عیسائیت مه قبلوه صرف صلیب نشان ته سجده وکوه د ټولو ملګرو سره دې پرېږدم .

عبد الله 8: زموږ پیغمبر موږ ته یو آیت را ښودلی دی چې مطلب یې دی : تاسې سجدې مه کوئ لمر ته او نه سپوږمۍ ته بلکه صرف الله ① ته سجده وکوئ که تاسې خالص عبادت کونکي یاست؟

هِرقل : سمه ده لږ شراب و څښه اوس دې پرېږدم .

عبد الله 8: زه په الله ① باندې د شرابو د څښلو نه پناه غواړم .

هِرقل : اوس به ته خامخا شراب څښې او د خنزیر د غوښې کباب به هم خوري هرقل حکم وکولو چې دا کس یوازې بندي کړئ او په خوا کې ورسره شراب او د خنزیر غوښه کېږدئ بل ورسره هېڅ هم مه پرېږدئ چې له لوږې نه تنګ شي خامخا به همدا څښي او همدا به خوري .

دری ورځې پداسې ډول باندي حضرت عبد الله بن حذافه ❽ بندي وساتل شو په څلورمه ورځ د بندیخانې له کسانو څخه پوښتنه وشوه چې ده څه خوراک کړی دی؟

هغوی ورته وویل: نه ... کوم شی چې مونږ هغه ته ایښي وو په هماغه ډول کېښودل شوي دي ده ترینه هېڅ خوراک نه دی کړی او داسې ښکاره کیږي لکه ده چې هغو ته بالکل کتلي نه وي.

هرقل حکم وکولو چې هغه زما دربار ته حاضر کړئ.

حضرت عب الله بن حذافه ❽ حاضر کړل شو.

هِرقل: تا دا خوراک او څښاک ولې استعمال نه کړو؟

عبد الله ❽: د الله نه ډاریدم.

هِرقل: کله چې د مرګ خطر شي نو بیا خو ستاسې په مذهب کې حرام شیان هم حلال کیږي بیا خو یې خوراک روا وي نو بیا تا ولې نه استعمالول؟

عبد الله ❽: ما نه غوښتل چې داسې یو کار وکوم چې په هغه سره یو کافر خوشحال او الله ① خفه شي.

هِرقل خپلې پښې وغزولې او ده 8 ته يې وويل كه د ځان لپاره ازادي غواړې د تعظيم لپاره زما پښو ته لږ ښكته شه ازادي به دركړو .

عبد الله 8: زه مسلمان يم او مسلمان د چا په وړاندې خپل سر نه ښكته كوي .

هِرقل : سمه ده ته زما تندی مچې كړه زه به تا او ستا ټول ملګري پرېږدم .

عبد الله 8: دا خبره ماته منظوره ده (په هغه وخت كې په سترګې مشې او يا خدای په اماني كې په تندي مچي كول د دوستي نښه وه)

حضرت عبد الله بن حذافه 8 همداسې وكول بادشاه يې په تندي باندې ښكل كړو هغه دوی ټول پرېښودل او په عزت كې يې رخصت كړل چې دده سره اتيا كسان مسلمانان نور وو .

يو څه وخت وروسته چا په مجلس كې په ټوكو كې وويل : دا هغه كس دی چې كافر يې په تندي باندې مچي كړی وو .

ده 8 وفرمايل : هو دهغې يوې مچې دا نتيجه وه چې اتيا كسان مسلمانان له قيد نه خلاص شول .

# رېښتونی ایثار

په مدینه منوره کې په یوه علاقه کې یوه وړوکې محله وه چې اوه کورونه پکې اباد وو دا خلک ټول غریبان او بې وسه وو په هر کور کې قحط وو یوه ورځ په هغوی کې یوه کور ته د چېلۍ سره په تحفه کې چا راوړو هغوی چې فکر وکاوه مونږ خو په وس کې لږ ښه یو دا زمونږ په خوا کې ګاونډی ډېر په خراب حالت کې دی دا به هغوی ته ورکړو الله ① به مونږ ته اجر راکړي نو دا یې د ګاونډیانو کور ته ور ولېږلو ، هغه کور هم فکر وکاوه چې مونږ یو څه ښه یو دا به مونږ خپل ګاونډي ته ورکړو داسې هر کور به داویل چې ددېنه زیات حقدار زمونږ ګاونډی دی نو دا سر له یو کور نه بل ته لېږل کېدو تردې چې بېرته هغه کور ته راورسېدو له کوم نه چې ګاونډي ته تحفه شوی وو دوی چې هغه سر ولېد چې دوی تحفه کړی وو اوس بېرته له بلې خوا دوی ته را ورسېدو نو دوی ورته حیران شول بیا یې شروع وربانډي وکوله پوخ یې کړو او بیا یې ټولو کورونو ته پکې لږ لږ برخه ورکړه .

# د رسول الله ☸ غلام

د رسول الله ☸ يو صحابي حضرت سفينة ❽ يو ځل په يوه کښتى کې سپور وو په اتفاقي ډول هغه کښتى له کوم شي سره و جنګېده او ماته شوه حضرت سفينه ❽ په يوه تخته باندې ځان ونيولو هغه تخته څه دده په کو ښښ څه د باد په مرسته وچې ته ورسېده او حضرت سفينة ❽ دې وچې ته ور وختلو دا يو ځنګل وو چې وحشي حيوانات پکې وو د يوه زمري چې په ده باندې سترګې ولګېدې دده لور ته يې را منډه کړه او په ده باندې يې حمله کول غوښتل حضرت سفينه ❽ ترې وډار شو لکن زمرى چې کله ورته را نږدې شو ده ورته په لوړ اواز سره وويل :

زمريه ! خبردار زه د رسول الله ☸ غلام يم .

زمري چې دا واورېدل سر يې ښکته کړو او د حضرت سفينة ❽ خوا ته راغلو لکى يې ورته ښورولـه او په اشارو کې يې حضرت سفينة ❽ پوه کړو چې په ما پسې شا ته راځه بيا يې هغه په داسې لاره باندې روان کړو چې هغه لاره د ابادي خوا ته تللې وه تر يو ځاى پورې زمرى ورسره راغلو بيا يې دى لارې ته سم کړو او حضرت سفينة ❽ په خير سره کور ته ورسېدو .

# رښتونی عدالت

د حضرت علي 8 زغره ورکه شوه د څه لتون څخه وروسته دا زغره د يهودي سره پيدا شوه حضرت علي 8 پدې وخت کې خليفه وو ويې ويل دا زغره خو زما ده يهودي ورته وويل دا مې خپله ده د دواړو دعوه شوه پدې وخت کې قاضي حضرت شريح رحمه الله وو هغه ډېر دين دار او تقوی دار قاضي وو تابعي وو لکن د صحابه وو ﷺ په موجوديت کې يې قضاوت کولو حکم وشو حضرت علي 8 او هغه يهودي په محکمه کې حاضر شول د دواړو اړخونو څخه ګواهان وړاندې کول او دليلونه ويل شروع شول شريح قاضي د حضرت علي 8 څخه ګواهان وغوښتل حضرت علي 8 يو خپل زوی حسين او بل خپل غلام قنبر د ګواهانو په ډول وړاندې کړل شريح قاضي د دوی دواړو ګواهي دده په حق کې منظوره نه کړه نو د حضرت علي 8 لپاره بل ګواه نه وو نو ځکه دعوه يهودي وګټله.


چې بهر ته را ووتل يهودي د حضرت علي 8 مخ ته کتل چې د خفګان اثر پکې ښکاره کېدو نو يې له ځان سره فکر وکاوه چې دا اسدالله دی د وخت خليفه هم دی د ښه طاقت او قوت خاوند هم دی او دا چې ما ترينه نا حق دعوه و ګټله زيات

غصه هم دی لما سره هر څه کولی شي نو ولې لما څخه دا خپل حق په زور نه اخلي؟

یهودي پدې اړه فکر کاوه او بیا یې ځان ته پخپله ځواب ورکړو .

دا اسلام دی چې دی لما سره د زور څخه منع کوي .

په همدې فکر کې د یهودي زړه اسلام طرف ته نرم شو او په اسلام مشرف شو او د حضرت علي ❽ په خدمت کې حاضر شو دهغه زغره یې ورته په خدمت کې وړاندې کړه .



## د رسول الله ﷺ د مُهر برکت

د حضرت عثمان ؓ سره د رسول الله ﷺ مُهر مبارک وو چې په هغه باندې لیکلي وو محمد رسول الله حضرت عثمان ؓ د یوه کوهي په غاړه ناست وو هغه مهر ترینه په کوهي کې وغورځېدو حضرت عثمان ؓ ډېر لوی انعام مقرر کړو ددې مُهر په را وپستلو باندې او پدې کوهي کې د انسان تر ملا پوري اوبه وې ددې لپاره چې هغه انعام حاصل کړي خلکو ډېر کوښښ وکولو او هغه اوبه هم ترې را وویستل شوې او تولې خاورې را بهر کړل شوې لکن مهر ورک شو .

د سیرت په کتابونو کې دي چې دهغه مهر د ورکېدلو وروسته به د هر واړه او لوی شي نه حضرت عثمان ؓ ته مشکلات پیدا کېدل د مثال په توګه چې چاته به یې د نصیحت په ډول کومه خبره وکوله هغه به یې دښمن شو لکه وایي چې یوه ورځ یې یو کس ته چې کوترې یې ساتلې وې او آلوزولې یې وویل : دا مه کوه دا ښه کار نه دی بیا یې هغه کس سخت دښمن شو او داسې نور مشکلات ورته هره ورځ پیدا کېدل تردې چې شهید کړل شو .

## د انصارو او مهاجرینو شیوخ

رسول الله ﷺ يو ځل په منبر باندې تقرير کولو او پوښتنه يې وکوله چې حضرت ابو بکر صديق ؓ چېرته دی؟

حضرت ابو بکر صديق ؓ و فرمايل : يا رسول الله ﷺ زه دايم حاضر يم .

رسول الله ﷺ و فرمايل : زما خوا ته راشه .

کله چې ورغلو رسول الله ﷺ د سينې سره ولګولو او د دواړو سترګو په مينځ کې مچې کړو او بيا يې په لوړ اواز سره وويل :

اې مسلمانانو دا ابو بکر صديق دی د مهاجرينو او انصارو لوی شيخ دی زما رښتينی دوست او همدرد دی هغه وخت چې خلکو زما تکذيب کولو ده زما تصديق کولو ده په ځان او مال سره زما مرسته کړېده زما لپاره يې بلال واخيست او ازاد يې کړو واورئ دده په دښمنانو دي د الله عذاب وي الله ① له هغه کس نه بيزار دی چې دده دښمني کوي او زه هم دده له دښمنانو څخه بيزار يم تاسې بايد زما دا خبره ټولو خلکو ته ورسوئ .

رسول الله ﷺ بيا وفرمايل : عمر چېرته دی؟

حضرت عمر ؓ و فرمايل دايم زه حاضر يم يا رسول الله ﷺ

رسول الله ﷺ ورته وویل زما خواته راشه .

کله چې حضرت عمر رضي الله عنه راغلو رسول الله ﷺ و فرمایل :

ای مسلمانانو دا عمر ابن الخطاب دی د مهاجرینو او انصارو شیخ او بزرګ دی دا هغه کس دی چې دده په ژبه او زړه باندې الله ﷻ حق نازل کړی دی دا هغه کس دی چې کله هم د رښتیا له ویلو څخه نه منع کیږي واورئ هغه څوک چې دده دښمن وي الله ﷻ او دهغه رسول له هغه څخه بیزار دي .

بیا یې وفرمایل : عثمان چیرته دی؟

حضرت عثمان رضي الله عنه ته یې هم و فرمایل دلته راشه .

دهغه رضي الله عنه په اړه یې وفرمایل :

مسلمانانو دا عثمان دی د مهاجرینو او انصارو شیخ دی دا هغه کس دی چې د اسمان ملائکې هم له ده څخه حیاء کوي دا هغه کس دی چې ده ته ما د الله ﷻ په حکم دوه لوراني ورکړي دي او دا مې خپل زوم کړی دی واورئ دده په دښمنانو د هم دالله ﷻ لعنت وي .

ددېنه وروسته یې وویل : علي چیرته دی؟

بیا یې دهغه ❽ په اړه و فرمایل :

ای مسلمانانو دا علي بن ابي طالب دی د مهاجرینو او انصارو شیخ دی دا زما ورور او زما د تره زوی دی او زما زوم هم دی دا زما غوښه او وینه ده دا د الله د دښمنانو لپاره توره ده دا د الله ① زمری دی واورئ دده په دښمنانو د الله ① لعنت دی هغه کسان چې دده سره دښمني کوي له هغه څخه الله ① او دهغه رسول ☸ بېزار دي هغه کسان چې د الله ① او دهغه د رسول ☸ نه بیزار کېدل غواړي هغه دې له علي ❽ نه بېزار شي .



# د رسول الله ☸ د هر قدم احترام

يو ځل حضرت عثمان ❽ رسول الله ☸ ته دعوت ورکړو چې دده کور ته له خپلو ملګريو سره ورشي او هلته چې د دوی لپاره خوراک تيار دی هغه د وخوري .

رسول الله ☸ دده غوښتنه ومنله او د خپلو ملګرو سره د حضرت عثمان ❽ د کور په لور روان شو کله چې رسول الله ☸ د دوی د کور خوا ته په لاره وو نو حضرت عثمان ❽ دهغه يو يو قدم شمار کولو .

رسول الله ☸ پوښتنه وکوله : ای عثمان دا زما قدمونه ولې شماري؟

ده ❽ ورته و فرمايل : يا رسول الله ☸ زما مور پلار لتا نه زار شه زه غواړم چې د رسول الله ☸ په احترام کې د هغه د هر قدم چې زمونږ د کور په لور يې اخلي په بدل کې يو غلام ازاد کړم .

او بيا چې د رسول الله ☸ په لاره باندې د حضرت عثمان ❽ کور ته هرڅو قدمونه شوي وو حضرت عثمان ❽ همدومره غلامان ازاد کړل .

# د حضرت عمر 8 تقوى

د حضرت عمر 8 څخه يوه ورځ پوښتنه وشوه چې دا ته په ځان څومره تكليف تېروې چې نه د شپې ارام كوې او نه د ورځې ؟

ده 8 ورته و فرمايل : كه د ورځې ارام وكوم نو رعيت به مې نا ارامه شي او كه د شپې ارام وكوم نو د الله ① له ذكر نه غفلت كيږي بيا به په قيامت كې د الله ① سره په كوم مخ مخامخ كېږم .



# حضرت عمر 8 د خلکو خادم دی

حضرت عمر 8 یوه ورځ د سحر له لمانځه وروسته د تازه هوا نه د مزې اخستلو لپاره د مدینې منورې له کوڅو څخه بهر ته را ووتلو او غوښتل یې چې چکر ووهي زړې او پیوند لرونکې جامې یې پر ځان وې چې لږ د مدینې منورې له ابادي څخه را لرې شو یوه زړه بوډۍ یې ولیده چې ډیر عمر یې په ټول بدن کې لړزه پیدا کړې وه پوښتنه یې ترې وکوله موري څه تکلیف دی درته ؟

بوډۍ ښځې ورته وویل : د حضرت عمر 8 له لاسه ژاړم له کومه وخته چې هغه د اسلام خلیفه شوی دی د غریبانو پوښتنه نه کیږي زه له څه وخت نه په غربت او بې وسي کې یم لکن هیڅوک هم خبر نه دي چې څه کیږي او د رعیت په ا ړه هیڅ ډول پوښتنه نشته چې په څه حال کې دی.

حضرت عمر 8 ورڅخه وپوښتل : تاسي کله د حضرت عمر 8 په وړاندې خپل شکایت کړی دی؟

دې ورته وویل : اوریدلي مې دي ډیر د سخت طبیعت لرونکی انسان دی تکړه تکړه خلک دهغه په وړاندې زړوره خبره نشي کولی زه څنګه ورشم او هغه ته خپل مشکلات په مخ کې کیږدم الله د هغه

پوه کړي چې خليفه دی او د مسلمانانو له مشکلاتو څخه نه دی خبر .

حضرت عمر ❽ : تاسي دلته په دښته کې اوسيږئ نو عمر به لتاسي نه څه ډول خبر شي؟

بوډۍ ښځه : چې هغه د خپل رعيت له تکليف څخه ځان نشي خبرولی نو د دومره لوی حکومت د چلولو هغه بيا څه حق لري؟

دي خبرو د حضرت عمر ❽ زړه نرم کړو او په عاجزي سره يې غوښتل چې هغه بوډۍ ښځه رضا کړي او ورته ويل يې :

ماته معافي وکوه رښتيا هم چې زه ددي وړ نه وم چې د مسلمانانو په سر باندې امير مقرر کړل شم په رښتيا هم چې زه ددي وړ نه وم چې دا لوی بوج د زه پورته کړلی شم بيا يې خپل ځان ته ويل : ای عمره ته وګوره ته به الله ① ته څه ځواب ورکوې هغه چې ستا په اوږو يې بوج ايښی دی افسوس چې ته هغه نه شې پورته کولی .

زړې ښځې چې دده ❽ له خولې نه دا الفاظ واوريدل نو پوه شوه چې حضرت عمر ❽ د مسلمانانو خليفه همدا دی هغه ډيره وډاره شوه او و ريږديده حضرت عمر ❽ ورته وويل : ګوره

د ډاريدو ضرورت نشته مونږ دواړه د يو الله ① بندګان يو رسول الله ﷺ مونږ ته همدا درس را ښودلی دی چې د رنګ او نسل امتياز له مينځ نه لرې کړو ، د عجمي او عربي بېلتون لرې کړو ، د تور او سپين په مينځ کې فرق ختم کړو او زمونږ اسلام مونږ ته را ښيي چې بادشاه او غريب سړي ته په يوه نظر وګورو د الله ① په وړاندې صرف هغه کسان غوره دي چې تقوی لرونکي وي د الله ① په وړاندې د لوی وړوکي د اعلی او ادنی تميز نشته .

بيا يې ورته وويل :

واوره عمر د مسلمانانو بادشاه نه دی بلکه د مسلمانانو کم ترين خادم دی .

څومره چې دده په وس په هغه وخت کې وو دومره مرسته يې ورسره وکوله او بوډۍ ښځه يې خوشحاله کړه او ددېنه وروسته يې اعلان وکولو چې هرچېرته ضعيف خلک بې اسرې خلک وي هغوی ته به له بيت المال نه د هغوی مصرف مقرر کول کيږي .

# عجيب نذر

يوه ورځ چې رسول الله ﷺ له غزا نه را ستون شو نو يوه مسلمانه جينۍ ورته راغله ورته ويل يې : يا رسول الله ﷺ ما نذر کړی وو چې که ته له غزا څخه جوړ او په خير را ستون شې زه به ستا په سر باندې دريا وهم او بدل به درته بولم .

رسول الله ﷺ ورته و فرمايل : ښه ده که تا دا نذر منلی وي نو خپل نذر دې پوره کړه .

هغه راغله او د رسول الله ﷺ په وړاندې يې دريا وهله او بدل يې ورسره ويله .

پدې وخت کې حضرت ابو بکر صديق ﵁ راغلو هغه جينۍ په هماغه ډول خپله بدل روانه وساتله حضرت علي ﵁ مجلس ته راغلو بيا هم هغې خپله دريا ونه دروله پدې وخت کې حضرت عمر ﵁ راغلو جينۍ زر هغه دريا کېښوده او په هغې د پاسه کېناسته چې پټه يې کړي حضرت رسول الله ﷺ مسکی شو حضرت عمر ﵁ ته يې وفرمايل عمره ! لتا څخه شيطان ډارېږي دې جينۍ زمونږ په وړاندې دريا وهله چې ته راغلې پټه يې کړه .

## د بې وزلو خدمت

د مدينې منورې په چاپېريال کې يوه زړه ښځه اوسېده چې څوک يې هم نه درلودل حضرت عمر ❽ به د هغې مبارکې کور ته ورغلو او هغې ته به يې لوښي له اوبو څخه ډک کړل او د کور نظم به يې ورته برابر کړو بېرته به ترې لاړو بله ورځ چې لاړو ويې کتل د بوډۍ د کور کار دده نه مخکې شوی دی ، سبا بيا لاړو بيا يې وکتل چې کار دده له ورتلو څخه وړاندې ختم شوی دی ، بله ورځ بيا همداسې وشول دده سره فکر پيدا شو چې دا څوک کېدای شي چې دا کار لما څخه وړاندې کوي نو يوه ورځ لږ تر خپل وخت وړاندې راغلو چې دا کس پيدا کړي چې دا څوک دی هره ورځ لما څخه وړاندې راځي او ددې بوډۍ لپاره کار کوي انتظار يې وويستلو آخر هغه کس راغلو چې ويې کتل هغه امير المومنين حضرت ابو بکر صديق ❽ دی .

# په رښتیا غوره انسان

د رسول الله ﷺ په خدمت کې څه خلک حاضر وو یو کس تېر شو رسول الله ﷺ د هغه کس په اړه پوښتنه وکوله ددې کس په اړه ستاسې څه رایه ده؟

خلکو وویل : ای رسول الله له شریفو خلکو څخه دی ، که چا ته د نکاح پیغام ور ولیږي منل کیږي ، که د چا لپاره شفاعت وکوي چاته په کوم کار کې واسطه شي خلک یې واسطه قبلوي .

بیا یوڅه وخت ټول چپ وو یو بل کس تېر شو.

رسول الله ﷺ ددې کس په اړه وپوښتل : ددې کس په اړه ستاسې څه رایه ده ؟

خلکو وویل :

یا رسول الله ﷺ د غریبو مسلمانانو له جملې څخه دی ، که له چا څخه نکاح وغواړي نو یې څوک نه ورکوي، که د چا لپاره واسطه شي څوک دده خبره نه مني او که دی خبره کوي نو څوک یې نه اوري .

بیا رسول الله ﷺ و فرمایل : د هغه اول ډول کسانو څخه چې دا ټوله دنیا هم ډکه شی دا یوازې وربانده غوره دی .

## له قيمتي جامو څخه کرکه کول

حضرت حسن بصري رحمه الله فرمايي : زه په بصره کې يو جامع جومات ته لاړم هلته مې وليدل چې څه خلک ناست دي او د حضرت ابو بکر صديق او حضرت عمر 8 په اړه خبرې کوي د هغو نېک صفات بيانوي او د هغوی په لاس باندې شوي اسلامي فتوحات يادوي زه هم ور نېږدې شوم چې په دوی کې مې حضرت احنف بن قيس 8 وليدو هغه ويل مونږ حضرت عمر 8 په يوه سريه کې د عراق لور ته ولېږلو هلته الله ① په عراق کې مونږ ته فتح نصيب کړه او د شام څه ځايونه يې را باندې فتح کړل مونږ هلته څه ښې جامې پيدا کړې او له هغې خوا نه چې راتلو نوې جامې مو په ځان وې را روان وو مدينې منورې ته را ورسېدو کله چې حضرت عمر 8 ته ورغلو هغه له مونږ څخه خپل مخ بل لورې ته واړولو او له مونږ سره يې خبرې ونه کولې په مونږ کې په څه کسانو دا خبره بده ولګېده مونږ له ده څخه لاړو او دده د زوی عبد الله بن عمر 8 په مجلس کې حاضر شوو هغه ته مو وويل چې حضرت عمر 8 له مونږ نه مخ واړولو هغه راته وويل : ځکه چې تاسې داسې نوې او

عصري جامې آغوستې وي چې کومې رسول الله ﷺ او حضرت ابو بکر صديق 8 نه وي آغوستې بيا مونږ کورونو ته لاړو او هغه جامې مو بدلې کړې په عامو جامو کې بېرته راغلو بيا چې حضرت عمر 8 ته ورغلو هغه راته پاڅېدو او له هر يو سره يې بېله بېله ستړي مشي وکوله او له هر يو ته يې بېله بېله غېږه ورکړه داسې راسره مخامخ شو لکه ددېنه وړاندې چې ده 8 مونږ نه وو ليدلي .

بيا مو غنيمتونه ورته په خدمت کې کېښودل په سمه طريقه يې را وويشل او په غنيمتونو کې ځينې مختلف ډول خواږه خوراکونه وو عمر 8 دهغه خوراکونو مزه وکتله خوند يې ورکړو بوی يې هم ښکلی وو بيا يې مخ ترې واړولو او مونږ ته يې مخ کړو ويې وويل : ای د مهاجرينو او انصارو خلکو والله داسې به شي چې خپل زوی به را پاڅيږي خپل پلار به ووژني او ورور به را پورته شي ورور به ووژني ددې دنيا له امله بيا حضرت عمر 8 امر وکولو چې هغه خوراکونه دې په يتيمانو او د شهيدانو په اولادونو باندې وويشل شي بيا حضرت عمر 8 ددې ځای نه پاڅېدو روان شو ځنې صحابه 8 هم پسې روان وو ځينو پکې وويل : تاسې دې کس ته وګورئ دده تقوی او دده

جامې ته وګورئ د داسې کولو نه خو زمونږ نفسونه عاجز دي ده ته د کسرئ او قيصر وفدونه راځي ، د مشرق او مغرب نه خلک دده سره خبرو کولو ته راځي ، عرب او عجم يې ملاقات ته راځي هغوئ چې دده په غاړه داسې جامه ووينې چې ۱۲ پيوندونه يې ورته لګولي دا ښه خبره نه ده دي کاش چې تاسې له ده څخه غوښتي واى چې دده جامه مو ور نوې کړې واى.

# ملک الموت وژړل

يو وخت الله ① د روح اخستلو ملائکه د يوې ښځې د روح په اخستلو پسې ولېږله هغه چې راغله ښځه يې په دښته او بيابان کې پيدا کړه چې ماشوم ته يې شودې ورکولې او په شاو خوا کې ورسره هېڅوک نور نه وو د مرګ ملائکه چې ورته راغله ويې ليده زياته وربانديې خفه شوه لکن په وس کې يې څه نه وو ځکه دي ته حکم شوئ وو چې روح ترې واخله او چې بلې خوا ته يې د شودو ماشوم ته کتل بې اسرې پاتې کېدو نو له يوې خوا يې ترې روح اخستو له بلې خوا ورته په ژړا شوه ورته ژړل يې .

ددېنه وروسته ډېر کلونه تېر شول چې بيا الله ① د يو سړي د روح په اخستلو پسې را ولېږله چې

ورته راغلو ويې ليدو هغه يو زوړ سړی وو پدې
وخت کې د پښ (آهنګر) سره ددې لپاره ولاړ وو چې
دده په لاس کې همسا ته په شکته طرف کې وسپنه
ولګوي او پدې وخت کې يې آهنګر ته دا خبره
کوله چې زما همسا ته په لاندې لوري کې چې کومه
وسپنه لګول کيږي هغه بايد داسې وسپنه نه وي
چې هغه زر له مينځه لاړه نه شي کلکه وسپنه
ورته ولګوه چې تر ډيره وخته پورې ماته کار
راکړي او همسا مې زر خرابه نه شي پدې وخت کې
ملک الموت له خندا نه ورته تينګ نه شو او دده
اوږدو اميدونو ته او په دنيا کې زړه لګيدو ته
يې ډير وخندل چې دده په دنيا کې څومره
اميدونه دي او پدې نه دی خبر چې په دنيا کې
دده صرف يو څو لحظې دي پدې وخت کې الله ① ملک
الموت ته وويل : دا چې ته يې اوس وخندولې دا
هماغه کس دی چې يو وخت يې ته وژړولې هو دا
هماغه کس دی چې کله يې تا له مور نه روح
اخيسته دده بې وسې او بې کسې ته ژړولې وې
هغه بيا لوی شو او د اوږده عمر خاوند شوو نن
يې اوږدو اميدونو ته وخندولې .

## رحمان بابا وايي :

خدايه څه شول هغه ښکلي ښکلي خلک
په ظاهر او باطن سپين سپيڅلي خلک

هيڅ خندا مې لدې خلکو سره نشي
ژړوي مې هغه تلل تللي خلک

## مـاخـذونــه

1-التاريخ الإسلامي مواقف وعبر، د. عبد العزيز الحميدي، دار الدعوة، الإسكندرية.

2- السيرة النبوية دروس وعبر، د. مصطفى السباعي، المكتب الإسلامي، بيروت، لبنان، الطبعة التاسعة، 1406هـ - 1986م.

3- السيرة النبوية، لأبي محمد بن عبد الملك بن هشام، دار الفكر.

4- السيرة النبوية عرض حقائق وتحليل أحداث ,د.على محمد الصلابي الطبعة الأولى.

5- السيرة النبوية الصحيحة، د. أكرم العمري، الطبعة الأولى 1412هـ/ 1992م، مكتبة العلوم والحكم بالمدينة المنورة.

6-السيرة النبوية في ضوء المصادر الأصيلة:الدكتور مهدي رزق الله أحمد ط1-1412هـ مكتبة الملك فيصل.

7- السيرة النبوية مواقف وعبر :الدكتور عبد العزيز بن عبد الله الحميدي ط2 دار الدعوة .

8-القيادة العسكرية في عهد الرسول ﷺ ، دار القلم، الطبعة الأولى، 1410هـ- 1990م.

9- تفسير القرطبي، لأبي عبد الله القرطبي، دار إحياء التراث العربي، بيروت، لبنان، 1965م.

10- سير أعلام النبلاء: شمس الدين الذهبي، مؤسسة الرسالة، الطبعة الأولى، 1403هـ.

11- صور وعبر من الجهاد النبوي في المدينة، تأليف: د. محمد فوزي فيض الله، دار القلم، دمشق، الدار الشامية، بيروت، الطبعة الأولى، 1419هـ- 1996م.

12- صحيح السيرة النبوية، إبراهيم العلي، دار النفائس، الطبعة الثالثة، 1408هـ - 1998م.

13- صحيح البخاري، محمد إسماعيل البخاري، دار الفكر، الطبعة الأولى، 1411هـ - 1991م.

14- على خطى الحبيب :عمرو خالد

17- فقه السيرة النبوية :الدكتور محمد سعيد رمضان البوطي ط11 1991م

18- من معين السيرة، صالح أحمد الشامي، المكتب الإسلامي، الطبعة الثانية، 1413هـ- 1992م.

19- فقه السيرة النبوية، منير الغضبان، معهد البحوث العلمية وإحياء التراث مكة المكرمة.

20- شرح النووي على صحيح مسلم للإمام النووي المتوفى 676هـ - طبع المطبعة المصرية ومكتبتها – القاهرة عام 1347هـ.

21-البداية والنهاية، أبو الفداء ابن كثير الدمشقي. دار الريان للتراث.

22- غزوة بدر الكبرى الحاسمة، محمود خطاب.

23-غزوة بدر الكبرى، محمد أبو فارس، دار الفرقان، الطبعة الأولى، 1402هـ- 1982م.

24- غزوة بدر الكبرى، محمد أحمد باشميل، طبعة دار الفكر، الطبعة السادسة، سنة

1394هـ

25-فتح الباري، ابن حجر العسقلاني، دار المعرفة، بيروت، لبنان.

26- الدر المنثور في التفسير بالمأثور، الإمام السيوطي، الناشر محمد أمين دمج، بيروت، لبنان.

27-زاد المعاد في هدي خير العباد، أبو عبد الله ابن القيم حققه: شعيب الأرناؤوط وعبد القادر، الطبعة الأولى، 1399هـ، دار الرسالة.

28-السيرة النبوية في ضوء القرآن والسنة، محمد أبو شهبة، دار القلم، دمشق، الطبعة الثالثة، 1417هـ - 1996م.

٢٩-المستفاد من قصص القرآن للدعوة والدعاة، عبد الكريم زيدان، مؤسسة الرسالة، الطبعة الأولى، 1418هـ- 1997م.

3٠- طبقات ابن سعد الكبرى، محمد بن سعد الزهري، دار صادر، ودار بيروت للطباعة والنشر، 1376هـ- 1957م.

3١- المغازي للواقدي، محمد عمر بن واقد المتوفي 207هـ، تحقيق د. مارسدن جونس، عالم الكتب، بيروت، الطبعة الثالثة، 1404هـ- 1984م

32- القيادة العسكرية في عهد الرسول ﷺ، دار القلم، الطبعة الأولى، 1410هـ-1990م.

33- إمتاع الأسماع بما للرسول من الأبناء والأموال والحفدة والمتاع، للشيخ أحمد المقريزي، صححه وشرحه محمود محمد شاكر، مطبعة لجنة التأليف والترجمة بالقاهرة 1941م.